افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET





# بریا د ټولو هیله

## GLORIOUS NATION
## VICTORIOUS TEAM

سوداګریزه څانګه

دولسم کال، لومړۍ ګڼه | درې میاشتنۍ مجله | ۲۰۲۶ز کال














جنوري - مارچ

افغانستان کرکټ بورډ

سوداګریزه څانګه

درې میاشتنۍ مجله

۲۰۲۶م کال





د امتیاز څښتن: افغانستان کرکټ بورډ

مسوول مدیر: عبدالله خان پکتانی

لیکوالان او راټولوونکي: حکیم الله احمدزی، خپلواک دریځ او سید نسیم سادات

عکاس: سید حسرت سادات

ډیزاین: احمد عابد سعادت


www.facebook.com/AfghanistanCricketBoardOfficial
www.facebook.com/ACBDomestic
www.facebook.com/GAOneDayCup
twitter.com/ACBofficials
twitter.com/AcbDomestic
/twitter.com/GAOneDayCup
www.instagram.com/afghanistancricketboard/
www.instagram.com/gaonedaycup/
www.youtube.com/c/AfghanistanCricketBoardOfficial
cricket.af/
whatsapp.com/channel/0029Va8IzMuJkK71MdD70Q1m

# لیکلړ


سرمقاله ........ ۱

افغان لوبغاړي په روان ۲۰۲۷ ز کال کې ۷۹ نړیوالې لوبې ترسره کوي ........ ۲

د افغانستان او سریلانکا ترمنځ د شل اوریزو او یو ورځنیو سیالیو لوبلړۍ وځنډول شوه ........ ۶

د ۲۰۲۶ز کال لپاره د کورني کرکټ د راتلونکو سیالیو مهالوېش په ډاګه شو ........ ۸

د افغانستان کرکټ بورډ نوې وېبپاڼه پر لیکه شوه ........ ۱۲

راشد خان په شل اوریزو سیالیو کې ستره او تاریخي کارنامه په خپل نوم ثبت کړه ........ ۱۶

له غوراوي پړاو څخه د نړیوال جام تر نیمه پایلوبو؛ د نولس کلنو ملي لوبډلې سفر، لاسته راوړنې او ........ ۲۰

افغان ملي لوبډلې په شل اوریزه لوبلړۍ کې ویسټ انډیز لوبډلې ته ۱- ۲ ماتې ورکړه ........ ۲۶

د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې رمضان جام سیالۍ ترسره شوې ........ ۳۰

ابراهیم ځدراڼ د شل اوریزو سیالیو لپاره د افغان لوبډلې نوی لوبډلمشر وټاکل شو ........ ۳۲

کریکت بورد افغانستان با شرکت مخابراتی ای اند و شرکت مشروبات غیرالکولی سوپرکولا قراردادهای حمایت مالی تمدید کردند ۳۹

تېر ۲۰۲۵ز کال کې ترسره شوې پرمختیایي پروژې او راتلونکې پلانونه ........ ۴۰

د راتلونکو نړیوالو سیالیو لپاره د ملي لوبډلې تمریناتي کمپ پیلېږي ........ ۴۴

د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالۍ ترسره شوې ........ ۴۶

د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ په دوو بڼو کې ترسره شوې ........ ۵۲

د کرکټ قوانین د دویم قانون پاتې برخه د دویم قانون پاتې برخه: د لوبغاړانو دندې او اشارې ........ ۶۰

FROM ASSOCIATE TO ELITE - THE ROAD TO ICC FULL MEMBERSHIP ........ ۷۱




# سرمقاله

افغانستان کرکټ بورډ سږ ۲۰۲٦ز کال تر دې مهاله (د مارچ۳۱مه) د کورني کرکټ وزیر محمد اکبرخان دویمه درجه او لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ (په یو ورځنۍ او شل اوریزه بڼو) ترسره کړې دي چې له مهالوېش سره سمې په غوره ډول ترسره شوې او د کورني کرکټ با استعداده او نویو لوبغاړو پکې ګډون درلود. باید وویل شي چې لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ سږ کال په دوو بڼو (شل اوریز او یو ورځنۍ) ترسره شوې، ترڅو له همدې ځایه د شل اوریزو سیالیو لوبغاړي جلا او د یو ورځنیو جلا شي، په دې معنا چې د همدې بڼې د شل اوریزو سیالیو غوره لوبغاړي به لومړی ملي شل اوریز جام سیالیو او ورپسې د شپږیزې کرکټ سیالیو ته لاره بیامومي او د یو ورځنیو هغه به بیا غازي امان الله خان لېست اې او میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو ته لاره پیدا کوي چې یوه ډېره غوره تګلاره او حل لاره یې بللی شو.

د کورني کرکټ سربېره په نړیوال کرکټ کې بیا افغان لوبډلې د ویسټ انډیز لوبډلې ته د شل اوریزو سیالیو په لوبلړۍ کې ۱-۲ ماتې ورکړه، ورپسې نړیوال جام ته ولاړل چې زموږ لوبډله پکې څومره چې اړینه وه، ونه ځلېده، په داسې حال کې چې د سریلانکا پر وړاندې د شل اوریزو او یو ورځنیو سیالیو لوبلړۍ په منځني ختیځ او سیمه کې د کړکېچ له امله وځنډول شوه چې د همدې کال په وروستۍ ربع کې به ترسره شي.

افغانستان کرکټ بورډ دغه راز په پام کې لري چې د جون په میاشت کې د یو ورځنیو سیالیو او یوازېنۍ ټېسټ لوبې لوبلړۍ ترسره کړي او په همدې موخه د هندوستان په کوربه توب یاد هېواد ته سفر وکړي چې ورپسې به یو په بل پسې نورې لوبلړۍ هم ترسره کړي.

یوه موضوع چې ډېره اړینه ده، هغه د نړیوال جام نیمه پایلوبې ته د نوولس کلنو ځوانانو لارموندنه وه، دوی له ډېرو سختو پړاونو تېر شول چې بالاخره یې تر دې بریده ځان ورساوه چې د افغانستان کرکټ بورډ یوه هر اړخیزه تګلاره او پلان په نښه کوي.

پر دې سربېره افغانستان کرکټ بورډ په تېرو درېو میاشتو کې بېلابېل تمریناتي کمپونه او د ظرفیت لوړونې پروګرامونه ترسره کړل چې ډېر مؤثر او اغېزناک و.

په پای کې باید وویل شي چې ډېر ژر به د ملي لوبډلې مشر روزونکی ریچارډ پایبس هم افغانستان ته راشي او د ملي لوبډلې په تمریناتي کمپ کې چې پټېل شوې په پلازمېنه کابل او ننګرهار ولایت کې ترسره شي؛ ګډون وکړي او د هندوستان پر وړاندې د راتلونکې لوبلړۍ لپاره افغان لوبډله چمتو کړي.

## افغان لوبغاړي په روان ۲۰۲۷ ز کال کې





د افغانستان اتله کرکټ ملي لوبډله به د ۲۰۲۷م کال تر نومبر میاشتې په زیات شمېر ۷۹ نړیوالې لوبې ترسره کړي. دغه لوبې چې د افغانستان کرکټ بورډ د مشرتابه په هلو ځلو برابرې شوې، په ترسره کولو به یې د افغان اتلانو له مینې او جذبې ډکې سیالۍ یوځلي بیا هېوادوالو ته د برې خوښۍ او د یووالې ښکلې شېبې ډالۍ کړي.


د افغانستان کرکټ ملي لوبډله به په دغه موده کې ۹ ټېسټ، ۳۴ نړیوالې یو ورځنۍ او ۲۰ نړیوالې شل اوریزې لوبې ترسره کړي. افغانستان کرکټ بورډ هڅه کړې چې یادې سیالۍ په ځانګړې ډول د بشپړ غړیتوب لرونکو لوبډلو سره برابرې کړي، څو په ترسره کولو یې افغان لوبغاړي له خپلو سیالانو سره ولوبېږي او مینه وال یې له ځلېدا مبارزې خوند واخلي.

د افغانستان ملي لوبډله به راتلونکې میاشت کې د هندوستان کرکټ ملي لوبډلې سره په لومړي ځل یوه بشپړه لوبلړۍ ترسره کړي، چې کوربه توب یې هم هندۍ لوبډله پر غاړه لري. دغه لوبې چې د هند په بېلابېلو ایالتونو کې ترسره کېږي، لومړۍ به یې ټېسټ او له هغه وروسته درې نړیوالې یو ورځنۍ لوبې ترسره شي. دغه سیالۍ د افغانستان او هند کرکټ بورډونو په دوه اړخیزه همغږۍ پلان شوې دي، چې د مهالوېش سره سم به ترسره شي.

همدا راز به افغان لوبغاړي په اګست میاشت کې اروپا ته سفر وکړي، چې په لړ کې به یې د ایرلینډۍ لوبډلې سره یوه ټېسټ او ۵ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې ترسره



## ۷۹ نړیوالې لوبې ترسره کوي


کړي. د یادونې وړ ده، چې د افغانستان ملي لوبډلې او ایرلنډ ترمنځ دغه لوبلړۍ له وړاندې پلان شوې وه، چې یو ځلي د ایرلنډ کرکټ بورډ له لوري د مالي ستونزو له امله ځنډول شوي وې.

ملي لوبغاړي په سپتمبر میاشت کې د خپلې سیالې سویلي افریقا لوبډلې سره مخ کېږي. دغه لوبلړۍ چې د دواړو بورډونو په تفاهم د سویلي افریقا په کوربه توب پلان شوې دي، لومړی ځل دی چې سویلي افریقا او افغان ملي لوبډله یو د بل پر وړاندې یوه بشپړه لوبلړۍ ترسره کوي. د افریقا سره په دغه لوبلړۍ کې افغان اتلان یوه ټېسټ او ۳ نړیوالې یو ورځنۍ لوبې ترسره کوي. افغان اتلانو له دې وړاندې هم د سویلي افریقا سره یو شمېر نړیوالې لوبې ترسره کړې، چې افغان ملي لوبډلې پکې بریاوې ترلاسه کړي دي.

د افغانستان او هندوستان کرکټ بورډونو د ښو اړیکو په دوام به په لومړي ځل افغان اتله لوبډله د هندۍ لوبډلې کوربه توب وکړي. دغه کوربه توب چې افغان کرکټ بورډ په هندوستان کې پلان کړی، درې نړیوالې شل اوریزې لوبې پکې شاملې دي. د ویلو ده، چې افغان اتلانو له دې وړاندې هم د هندۍ ملي لوبډلې سره د شل اوریزه سیالیو لوبلړۍ ترسره کړې ده، چې په خپلو ښو او حساسو لوبو یې د کرکټ مینه وال حیران کړي دي.

د یادو سیالیو په دوام به افغان لوبغاړي اکتوبر میاشت کې د بنګله دېش کرکټ ملي لوبډلې سره دوه ټېسټ لوبې ترسره کړي، چې کوربه توب یې افغان کرکټ بورډ







پر غاړه لري. د افغانستان او بنګله دیش کرکټ ملي لوبډلو ترمنځ دغه لوبلړۍ چې د دواړو لوبډلو لپاره خورا لوی ارزښت لري، افغان کرکټ بورډ به يې کوربه توب په عرب امارات او يا هم هندوستان کې ترسره کړي. ملي لوبډله به د خپل کوربه توب په دوام په دسمبر مياشت کې د زمبابوې لوبډلې سره يوه اوږده لوبلړۍ ولري. د افغان ملي لوبډلې او زمبابوې ملي لوبډلو ترمنځ دغه لوبلړۍ کې دوه ټېسټ، درې نړيوالې يو ورځنۍ او درې نړيوالې شل اوريزې لوبې شاملې دي. د ويلو ده چې دغه لوبې به په متحده عرب امارات او يا هم هندوستان کې ترسره شي.

د راتلونکې ۲۰۲۷م کال په لومړۍ يانې فبروري مياشت کې افغان اتله لوبډله ويسټ انډيز ته سفر کوي او د ياد هېواد له ملي لوبډلې سره يوه ټيسټ، درې نړيوالې يو ورځنۍ او درې نړيوالې شل اوريزې لوبې ترسره کوي. افغان اتلې لوبډلې او ويسټ انډيزۍ لوبډلې له دې وړاندې هم يو د بل پر وړاندې بشپړې لوبلړۍ ترسره کړې، چې ملي لوبډلې پکې برياوې په خپل نوم کړې دي.

د همدې کال په مارچ مياشت کې بيا افغان ملي لوبډله د خپلې سيالې ايرلينډۍ ملي لوبډلې کوربه توب ترسره کوي. د افغانستان او ايرلينډ لوبډلو ترمنځ دغه لوبلړۍ چې په هندوستان او يا هم عرب اماراتو کې ترسره کېږي، يوه ټېسټ، درې نړيوالې يو ورځنۍ او درې نړيوالې شل اوريزې لوبې پکې شاملې دي.









د افغانستان کرکټ ملي لوبډله به په سپټمبر مياشت کې په لومړي ځل د سريلانکايي لوبډلې کوربه توب وکړي. د افغان ملي لوبډلې او سريلانکا ملي لوبډلو ترمنځ په دغه لوبلړۍ کې ۳ نړيوالې يو ورځنۍ او پنځه نړيوالې شل اوريزې سيالۍ شاملې دي. بايد وويل شي چې افغان ملي لوبډلې له دې وړاندې هم سريلانکا ملي لوبډلې ته په دوه اړخيزو لوبلړيو کې ماتې ورکړې دي.

همدارنګه به افغان ملي لوبډله د ۲۰۲۷ز کال په اکتوبر مياشت کې د کرکټ نړيوالې شورا په نړيوال جام لوبو کې ګډون وکړي. د کرکټ نړيوالې شورا له لوري د پنځوس اوريز نړيوال جام دغه لوبې چې په سويلي افريقا او ناميبيا کې پلان شوې دي، ۱۲ پياوړي لوبډلې پکې برخه لري، چې افغان اتلانو له وړاندې پکې خپل ګډون يقيني کړی دی.

دغه راز د ۲۰۲۷م کال په وروستيو کې به افغان اتله لوبډله د لومړي ځل لپاره د نيوزيلنډۍ لوبډلې سره دوه اړخيزه لوبلړۍ ترسره کړي. دغه لوبلړۍ چې لا يې مياشت نه ده په ډاګه شوې، درې نړيوالې شل اوريزې لوبې پکې شاملې دي.

د يادونې وړ ده، چې د افغان ملي اتلانو ترڅنګ به په دغه موده کې افغان ابداليان لوبډله هم يو شمېر لوبې ترسره کړي. د افغان ابداليانو دغو سياليو کې دوه اړخيزې او درې اړخيزې لوبلړۍ، رايزينګ ستارز اسيا کپ او ايمرجېنګ کپ سيالۍ شاملې دي.

# د افغانستان او سریلانکا

## ترمنځ د شل اوریزو او یو ورځنیو سیالیو لوبلړۍ وځنډول شوه




د افغانستان او سریلانکا کرکټ ملي لوبډلو ترمنځ د درې شل اوریزو او درې یو ورځنیو نړیوالو سیالیو لوبلړۍ چې په پام کې وه د روان کال د مارچ میاشتې له ۱۳مې تر ۲۵مې نېټې پورې په متحده عربي اماراتو کې ترسره شي، په سیمه کې د خراب وضعیت له امله د رامنځته شویو لوژستیکي ننګونو او د الوتنو د محدودیتونو له امله د ۲۰۲۶ کال وروستیو میاشتو ته وځنډول شوه.

تاکل شوې وه چې افغانستان کرکټ بورډ د لومړي ځل لپاره په یوه بشپړه لوبلړۍ کې د سریلانکا



کرکټ ملي لوبډلې کوربه توب وکړي چې پکې درې شل اوریزې نړیوالې سیالۍ او دغه راز درې یو ورځنۍ نړیوالې لوبې شاملې وې. د مهالویش له مخې درې شل اوریزې نړیوالې لوبې د مارچ په ۱۳، ۱۵ او ۱۷مه په شارجه کرکټ لوبغالي کې او دغه راز درې یو ورځنۍ نړیوالې لوبې د مارچ میاشتې په ۲۰مه، ۲۲مه او ۲۵مه نېټه په دوبۍ نړیوال کرکټ لوبغالي کې پلان شوې وې.

د متحده عربي اماراتو د کرکټ بورډ څخه د رسمي اجازه لیک ترلاسه کولو وروسته، په دواړو لوبغالو کې د یادو سیالیو د کوربه توب لپاره ټول چمتووالی نهايي شوی و. خو د فبروري میاشتې په وروستیو او د مارچ میاشتې په لومړیو کې په سیمه کې ځینو ناڅاپي بدلونونو لوژستیکي محدودیتونه رامنځته کړل چې د سفرونو په ترتیباتو او د دې لوبلړۍ په عملیاتي پلانونو یې منفي اغېز وکړ.

افغانستان کرکټ بورډ د دغه وضعیت د کنټرول لپاره د متحده عربي اماراتو د کرکټ بورډ، شارجه کرکټ لوبغالي او دوبۍ نړیوال کرکټ لوبغالي په شمول له ټولو مهمو ښکېلو اړخونو سره مشورې وکړې، او د مارچ په ۴مه نېټه د افغانستان کرکټ بورډ لخوا په رابلل شوې ګډه ناسته کې پرېکړه وشوه چې د مارچ میاشتې تر څلورمې نېټې پورې صبر وشي او د شرایطو د ښه کېدو په تمه د وضعیت وڅارل شي. وروسته د مارچ په ۷مه په بله تعقیبي ناسته کې هم سپارښتنه وشوه چې د وروستي پرېکړې لپاره د مارچ تر ۹مې پورې انتظار وشي.

سره له دې چې ټولو خواو هڅه وکړه ترڅو لوبې په ټاکل شوي وخت ترسره شي، خو لوژستیکي ننګونې له عملیاتي کنټرول څخه بهر پاتې شوې او په پایله کې یې د دې لوبلړۍ د ځنډولو او د نوي مهالوېش پر ټاکلو د غور کولو پرېکړه وشوه.

په دې ټوله پروسه کې د سریلانکا کرکټ بورډ په بشپړه توګه خبر ساتل شوی و او د لوبو د ځنډولو پرېکړه د سریلانکا کرکټ په مشورې او رضایت سره شوې ده.

د دغې لوبلړۍ د بیا ترسره کولو لپاره بیا هم د متحده عربي امارات د لومړني کوربه هېواد په توګه په پام کې نیول شوی دی او نوې نېټې به د اړوندو بورډونو او ښکېلو اړخونو ترمنځ له همغږۍ وروسته په مناسب وخت کې اعلان شي.

افغانستان کرکټ بورډ د متحده عربي اماراتو له کرکټ بورډ، د شارجه کرکټ لوبغالي، د دوبۍ نړیوال کرکټ لوبغالي او د سریلانکا کرکټ بورډ څخه د دې موضوع په حل او د ټولو خواوو د ګټو په ساتلو کې د دوی د دوامداره همکارۍ او ملاتړ له امله د زړه له کومې مننه کوي.

د افغانستان کرکټ بورډ ژمن دی چې دا سیالۍ په لومړي مناسب فرصت کې ترسره کړي او د سریلانکا کرکټ بورډ سره خپلو پیاوړو اړیکو ته دوام ورکړي.

# د ۲۰۲۶ز کال

## لپاره د کورني کرکټ د راتلونکو سیالیو مهالوېش په ډاګه شو




د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې له لوري هرکال د کورني کرکټ لپاره د سیالیو یو خورا بوخت مهالوېش برابرېږي، چې له مخې یې د ملي، الف او کورني کرکټ لوبغاړو لپاره د ډېرو لوبو او عوایدو ترلاسه کولو ښه فرصتونه برابر شوي دي. دغه سیالی چې د کال له سره پیلیږي، د بېلابېلو بڼو ۱۰ ډوله سیالی دي، چې پکې شل اوریزه، یو ورځنۍ، دري ورځنۍ او څلور ورځنۍ سیالی شاملې دي.

د افغانستان کرکټ بورډ له لوري د سږ کال په لومړیو کې د ولایتونو په کچه یو ورځنۍ سیالۍ، د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالی وې چې ۴۰ لوبډلو پکې ګډون درلود او دغه راز د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي یو ورځنۍ او شل اوریزه بڼه سیالی ترسره شوې. د همدې لوبو ځلېدونکي او غوره لوبغاړي پوړ په پوړ مخکې راځي او مخکې پړاو سترو سیالیو ته غوره کېږي.

د سرنیو سیالیو په دوام به د میرویس نیکه درې ورځنۍ سیالی په اپریل میاشت کې د هلمند او کندهار ولایتونو په کوربه توب ترسره شي. د میرویس نیکه درې ورځنۍ سیالی چې لویه موخه یې د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس سترو سیالیو ته د غوره او با استعدادو لوبغاړو موندل دي، هر کال ترسره کېږي چې له دې وړاندې یې هم ډېرى ځوان لوبغاړي فرسټ کلاس کرکټ ته ډالۍ کړي دي.

د کورني کرکټ څانګې د مسوولینو په خبره د میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو کې به سږ کال هم د تل په څېر د هېواد د پنځو زونونو مس عینک، بند امیر، اموږ، سپین غر او بست لوبډلې شاملې وي، چې هره لوبډله به یو د بلې لوبډلې سره مخ شي.

د میرویس نیکه درې ورځنۍ سیالی به د اپریل میاشتې په دویمه نېټه پیل او د همدې میاشتې تر ۲۰مې نېټې پورې به دوام وکړي. دغه سیالی چې هره لوبه یې درې ورځې ټاکل شوې، د ورځې پکې ۹۰ اوره لوبه ترسره کېږي. د میرویس نیکه درې ورځنۍ سیالی سږ کال د دویم ځل لپاره هلمند ولایت کې ترسره کېږي چې تېر کال پکې دغه لوبې په پوره کیفیت او ښه ډول ترسره کېدو ترڅنګ په زیاته کچه پکې د کرکټ مینه وال د لوبو لېدو ته هم راټلل چې له امله یې دغه لوبې لا رنګینې او د مینه والو لپاره د تفریح یو ښه فرصت و.

د اپریل میاشتې وروسته د افغانستان کرکټ بورډ کورني کرکټ څانګې په مې میاشت کې ملي شل اوریز جام لوبې پلان کړې دي، چې سږ کال به هم د کندز ولایت په کوربه توب ترسره شي. ملي شل اوریز جام لوبې چې د پنځو زونونو لوبډلې پکې برخه لري، سږ کال یې دریم پړاو ترسره کېږي، غوره او ځلېدونکي لوبغاړي یې د کورني کرکټ ستر لیګ شپږیزه کې د لوبېدو وياړ ترلاسه کوي.



د ملي شل اوریز جام لوبو ته به هغه لوبغاړي غوره شي چې په وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي شل اوریزه سیالیو

کې يې غوره کارګردګي ترسره کړې وي. همدا راز د ملي او الف لوبډلو هغه لوبغاړي چې په تېر پړاو شپږيزه لیګ کې يې ښه کارګردګي نه وه کړې، دغه سیالیو کې د ځوان استعدادونو سره څنګ په څنګ لوبېږي.

د کورني کرکټ ځانګې له مهالوېش سره سم به د ملي شل اوريز جام سیالیو وروسته لېسټ اې يو ورځنۍ سیالۍ په راتلونکي جون میاشت کې ترسره شي. دغه سیالۍ چې د يو ورځنيو سیالیو په بڼه ترسره کېږي، د پنځو زونون بنداميرِ، امو، مس عینک، بست او سپين غر لوبډلې پکې ګډون لري. د لېسټ اې يو ورځنيو سیالیو کې د ملي، ملي الف، ملي نولس کلنو او د کورني کرکټ پیاوړي لوبغاړي د لوبډو ویاړ لري. یادو سیالیو کې ټول هغه لوبغاړي چې غوره کارګردګي ترسره کړي، د افغانستان کرکټ بورډ سره د سپين بال تړون (قرارداد) ترلاسه کوي.

باید ووېل شي چې په لېسټ اې يو ورځنيو سیالیو کې د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولايتي يو ورځنيو سیالیو د غوره کارګردګيو لرونکي لوبغاړي هم غوره کېږي، چې د خپلو ملي اتلو لوبغاړو سره به څنګ په څنګ ولوبېږي.

د لېسټ اې سیالیو د پای ته رسېدو سره سم به د مینه والو د زړونو جوش او جذبو ډکې شپږیزه کرکټ لیګ سیالۍ په جولای میاشت کې ترسره شي. شپږیزه کرکټ لیګ چې د افغانستان په نړیواله کچه مشهور لیګ دی، هر کال په خورا شور او ولولو سره ترسره کېږي، چې د ملي لوبډلې ټول اتل لوبغاړي پکې په خپلو لوبو د مینه والو تنده خړوبوي.

شپږيزه کرکټ لیګ چې د افغان اتلانو د مينې او جذبې لیګ دی، د کورني کرکټ نوي ځوان لوبغاړي هم پکې د لوبډو ویاړ ترلاسه کوي. دغه لیګ کې به هغه ځوان لوبغاړي هم برخه ولري، چې په وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولايتي شل اوريزه سیالیو کې تر ځلېدو وروسته په ملي شل اوريز جام کې يې هم خپله وړتيا ننداري ته وړاندې کړې وي.

د شپږیزه کرکټ لیګ د تېر کال اتلولي امو نهنګان لوبډلې ګټلې، چې سږ کال به هم د بست ساتونکو، بنداميرِ ښامارانو، سپين غر پړانګانو او مس عینک اتلانو سره څنګ پر څنګ د خپلې اتلولی څخه دفاع کوي.

د شپږیزه کرکټ لیګ وروسته د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ مهالوېش کې يوځلي بیا د سور توپ (احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس) لوبې پیل شي. د مهالوېش سره سم د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس څلور ورځنۍ سیالۍ سږ کال د سپتمبر او نومبر میاشتو کې پلان شوې دي، چې د ننګرهار ولايت په دوه نجيب الله تره کي او غازي امان الله خان لوبغالو کې به ترسره شي.

د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس څلور ورځنۍ سیالۍ چې څه باندې يوه نيمه میاشت به دوام وکړي، څلور لوبډلې هندوکش سټرايکرز، ماهيپر سټورې، میوند اتلان او پامير لیجنډز لوبډلې پکې ګډون لري.

د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس لوبو ته ځوان لوبغاړي د میرویس نیکه درې ورځنيو سیالیو څخه غوره کېږي، خو د دې سربېره به د ملي لوبډلې لوبغاړي هم پکې د لوبډو ویاړ ولري.

د ویلو ده چې د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس




سیالیو څخه غوره لوبغاړي د اړتيا له مخې د افغانستان د سور توپ (ټيسټ) سیالیو ملي لوبډلې ته غوره کېږي.

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ ځانګې د مهالوېش سره سم په سپتمبر او مې میاشتو کې د زونونو په کچه د نجيب الله تره کي معلولينو شل اوريزه سیالۍ هم پلان شوې دي، چې سږ کال به هم د تېر کال په څېر دوه پړاوه ترسره شي. د زونونو په کچه د نجيب الله تره کي معلولينو شل اوريزه سیالۍ چې په کال کې دوه پړاوه ترسره کېږي، له هر پړاو وروسته يې غوره او




ځلېدلو لوبغاړو ته د افغانستان کرکټ بورډ له لوري شپږ میاشتنی تړون (قرارداد) ورکول کېږي.

افغانستان د کورني کرکټ مهالوېش چې هر کال په منظم او ښه ډول سره عملي کېږي، سږ کال هم د تېر په څېر په کاميابۍ او غوره کیفیت سره سیالۍ شوي او لاهم رواني دي، خو سږ کال افغانستان کرکټ بورډ اړتيا ته په کتو د زرغون افغانستان جام لوبې هم پلان کړې دي، که چېرې يې اړتيا احساس شوه نو د کال په وروستيو کې به ترسره شي.





# د افغانستان کرکټ بورډ نوې وېبپاڼه پر لیکه شوه

په اوسني ډیجیټلي عصر کې چې معلوماتو ته چټک لاسرسی د هرې مسلکي ادارې له لومړنیو اړتیاو څخه ګڼل کېږي، د افغانستان کرکټ بورډ هم د خپلو مینه والو او رسنیو لپاره د اسانتیاو د رامنځته کولو په موخه یو مهم ګام پورته کړی دی. د افغانستان کرکټ بورډ د سوداګریزې څانګې اړوند د رسنیو څانګې، د معلوماتي ټکنالوژۍ له څانګې سره په ګډو هلو ځلو او همکارۍ د ادارې لپاره نوې، پرمختللې او هراړخیزه وېبپاڼه ډیزاین او پرلیکه کړه. دا نوې وېبپاڼه نه یوازې یو معلوماتي ادرس دی، بلکې د افغانستان د کرکټ ډیجیټلي کور حیثیت هم لري، چې د افغان کرکټ پورې تړلې ټول واړه او زاړه موارد پکې په خورا منظم ډول راټول شوي دي.

په دغه نوې وېبپاڼه کې له تخنیکي او ظاهري اړخه د پخوانۍ هغې په پرتله خورا ستر او مثبت بدلونونه راغلي دي. دا وېبپاڼه په یوه عصري او نسبتاً ښکلې بڼه ډیزاین شوې ده، چې روښانه مخلید او کم وزن لري. د نوې وېبپاڼې تخنیکي جوړښت د لیدونکو لپاره دا







اسانتیا رامنځته کوي چې په ډېر کم انټرنټ او چټک سرعت سره پرته له کوم خنډ څخه خپلو مطلوبو معلوماتو ته لاسرسی پیدا کړي او د ډیجیټلي لټون یوه غوره تجربه ترلاسه کړي.

د دې پراخې وېبپاڼې لومړی برخه د افغانستان کرکټ بورډ تاریخچې، اداري جوړښت او تګلارو ته ځانګړې شوې ده. په دې برخه کې مینه وال کولی شي د افغانستان کرکټ بورډ اوږده او له وياړونو ډکه تاریخچه ولولي. د دې ترڅنګ، په دغه برخه کې د ادارې د مشرتابه، د بورډ د غړو او د ټولو څانګو د مدیرانو ژوندلیکونه په دریو ژبو (پښتو، دري او انګلیسي) په مفصله او روښانه بڼه ځای پر ځای شوي دي. سربېره پر دې، په همدې برخه کې د کرکټ نړیوالې شورا اړوند د کرکټ لوبې د دریو واړو بڼو لوبیز شرایط، د کرکټ د قوانینو تازه نسخې، د فساد او تبعیض ضد تګلارې او دغه راز د لوبغاړو او لوبڅارانو لپاره د چلند د کوډونو بشپړ اسناد هم شتون لري، چې هر مینه وال او څېړونکي ورته لاسرسی لري.

له بلې خوا، په نوې وېبپاڼه کې رسنیزه برخه خورا غني شوې، چې د تازه کورنیو او بهرنیو خبرونو، نړیوال او کورني کرکټ، رسمي خبرپاڼو، د لوبو د بشپړو راپورونو، ځانګړو فیچرونو او مرکو لپاره بېلابېل مخونه لري. د لوستونکو د لا ډېرې بوختیا لپاره پکې د انځوریزو او ویډیویي البومونو، ډیجیټلي مجلو او کلنیو راپورونو اسانتیا هم برابره شوې ده، ترڅو د اړتیا پر مهال دقیق، کره او پر وخت معلومات تر هېوادوالو ورسېږي.





د دې ترڅنګ، د لوبو په یوه جلا برخه کې د افغانستان د کرکټ ملي لوبډلې او کورني کرکټ د تېرو او راتلونکو لوبو مهالوېش او ارقام په کره ډول خپرېږي. په دې برخه کې د کرکټ نړيوالې شورا د راتلونکو سياليو د پروګرام له مخې، د افغان لوبډلې د راتلونکو درې کلونو د سياليو بشپړ مهالوېش هم ننداريانو ته اېښودل شوی دی.

په دغه وېبپاڼه کې د افغان اتلانو لپاره يوه ځانګړې او پراخه برخه جوړه شوې ده. دلته د ملي لوبډلې د ټولو مرکزي قرارداد لرونکو لوبغاړو پروفايلونه موجود دي، چې نه يوازې د دوی نوملړ او د قرارداد کټګوري پکې روښانه شوې، بلکې د هر لوبغاړي د لوبيز ژوند او لاسته راوړنو بشپړ معلومات هم پکې ځای پر ځای شوي دي. دا لړۍ يوازې تر ملي لوبډلې محدوده نده، بلکې د کورني کرکټ د قرارداد لرونکو لوبغاړو معلومات هم په ورته منظم شکل خپاره شوي، ترڅو د هېواد د کرکټ نوي استعدادونه هم د نړۍ تر سترګو ورسېږي.

د وېبپاڼې په پرمختيايي برخه کې د ظرفيت لوړونې او لوړو مهارتونو فعاليتونو ته هم پراخ پوښښ ورکړل شوی دی. په دې برخه کې د روزنيزو پروګرامونو او د دغه مرکز د اسانتياو په اړه مفصل معلومات لوستلی شئ. همدارنګه، د پلازمېنې کابل په ګډون په ټولو ولايتونو کې د کرکټ د شته لوبغالو او روزنځايونو اړوند معلومات او انځورونه خپاره شوي، ترڅو مينه وال د خپل ولايت د کرکټ له زيربناو خبر واوسي.






دغه راز، د وېبپاڼې يوه خورا ګټوره برخه د فرصتونو تر سرليک لاندې ده، چې د اداري روڼتيا او شفافيت په ډاګه کوي. دا پاڼه په دوو برخو وېشل شوې ده؛ په لومړۍ برخه کې يې د نويو دندو او ګومارنو خبرتياوې خپرېږي، ترڅو وړ کسان وکولی شي له افغانستان کرکټ بورډ سره د کار کولو چانس ترلاسه کړي، او په دويمه برخه کې د افغانستان کرکټ بورډ د عملياتي، لوژستيکي، سوداګريزو او رغنيزو چارو اړوند داوطلبيو خبرتياوې او اعلانونه خپرېږي.

د يادونې وړ ده چې د افغانستان کرکټ بورډ د خپلو مالي ملاتړو او سوداګريزو همکارانو ونډه تل ارزښتمنه ګڼلې ده؛ له همدې امله په دې نوې وېبپاڼه کې هغوی ته هم يوه ځانګړې برخه بېله شوې ده. په دې برخه کې د همکارو ادارو د فعاليت ساحې او د همکارۍ کټګوريو ته په کتو، د هغوی سوداګريزو نښانونو يا لوګوګانو ته په خورا ښکلي ډيزاين سره پوښښ ورکړل شوی دی، ترڅو له افغان کرکټ سره د دوی دا ارزښتمنه ملګرتيا لا نوره هم وستايل شي.

په لنډه توګه ويلی شو چې د افغانستان کرکټ بورډ دا نوې وېبپاڼه، د پخوانۍ هغې په پرتله، نه يوازې د لاسرسي په برخه کې اسانه او چټکه بڼه لري، بلکې د خورا عالي، تازه او په زړه پورې منځپانګې په درلودلو سره، د افغانستان د کرکټ د مينه والو، خبريالانو او څېړونکو لپاره يوه تر ټولو ستره، معياري او معتبره سرچينه ګڼل کېږي.

# راشد خان

## په شل اوریزو سیالیو کې ستره او تاریخي کارنامه په خپل نوم ثبت کړه







د افغانستان د کرکټ ملي لوبډلې ځلانده ستوري راشد خان په شل اوریزو سیالیو کې یو بل ستر تاریخ هم جوړ کړ. نوموړي په شل اوریزو سیالیو کې ۷۰۰ ویکټې بشپړې کړې او د کرکټ د نړۍ په تاریخ کې لومړنی توپ اچونکی شو چې دغه ستره نړیواله کارنامه او ځان او د افغانستان په نوم ثبتوي.

راشد خان تر دې مهاله (۲۰۲٦م کال د مارچ میاشتې تر ۳۱مې نېټې پورې) په ۵۲۰ شل اوریزو لوبو کې لوبېدلی دی او ۷۰۳ ویکټې ترلاسه کړې دي او په یوه لوبه کې یې تر ټولو غوره کارکردګي د ۱۷ منډو په بدل کې د ٦ ویکټو ترلاسه





کول دي.

د افغانستان د کرکټ دغه ځلانده ستوري په خپل لوبيز ژوند کې تر دې مهاله ۱۸ ځلې ۴ او ۴ ځلې ۵ ويکټې ترلاسه کړې دي. نوموړي دغه راز ۱۱۸۴۲ توپونه، چې ۱۹۷۳ اورونه او ۴ توپونه کېږي، ترسره کړي او په هر اور کې يې ۶.۵۹ منډې ورکړې دي چې دا د نوموړي د خورا غوره او بېسارې توپ اچونې ښکارندويي کوي.









سربېره پر دې، راشد خان د ۱۸.۵۰ منډو په بدل (د توپ اچونې اوسط) کې او له هر ۱۶.۸ توپونو وروسته (د توپ اچونې سټرايک رېټ) يو ويکټ ترلاسه کړې ده، چې دا هم بهترينه لاسته راوړنه شمېرل کېږي.

افغان ځلانده ستوري راشد خان د شل اوريزو سياليو ترڅنګ په شل اوريزو نړيوالو سياليو کې هم د نړۍ په کچه تر ټولو ډېرې ويکټې ترلاسه کړې دي. نوموړي تر دې مهاله په ۱۱۵ لوبو کې د ۶.۰۴ منډو ايکانومي رېټ، ۱۳.۷۳ منډو توپ اچونې اوسط او ۱۳.۶ سټرايک رېټ سره ۱۹۳ ويکټې ترلاسه کړې



دي چې د نړۍ په کچه تر دې مهاله تر ټولو ډېرې ويکټې شمېرل کېږي.



په شل اوريزو نړيوالو سياليو کې له راشد خان وروسته د نيوزيلنډ ټيم ساوتي په ۱۶۴ ويکټو سره دويم او د انګلستان عادل رشيد په ۱۶۳ ويکټو سره په نړيواله کچه دريم مقام لري. سربېره پر دې، په شل اوريزو سياليو کې له راشد خان وروسته د ويسټ انډيز لوبډلې پخوانی لوبغاړی ډووېن براوو په ۶۳۱ ويکټو سره دويم او د همدې لوبډلې بل لوبغاړی سونيل ناراين په ۶۱۴ ويکټو سره په نړۍ کې د ډېرو ويکټو له مخې دريم مقام له ځان سره لري.









د راشد خان بېسارې وړتيا، فېټنېس، په نړيواله کچه لوړې تقاضا، خوارۍ، زحمت، د لوبې په اړه د نوموړي مسلکي لرليد او برخورد او دغه راز د هغه د نورو سيالانو په پرتله د نوموړي کم عمر ته په کتو ويل کېدای شي چې راشد خان په راتلونکو نږدې کلونو کې په شل اوريزو سياليو کې داسې کارنامه ترسره کړې چې ښايي تر ډېره زياته وخته پورې د ريکارډ په توګه پاتې شي او څوک يې ماته نکړی شي.



# له غوراوي پړاو څخه د نړیوال جام تر نیمه پایلوبو؛

## د نولس کلنو ملي لوبډلې سفر، لاسته راوړنې او راتلونکي پلانونه

### مقدمه:

د ۲۰۲٦ کال د نولس کلنو لوبغاړو نړیوال جام سیالیو کې د افغان ځوانانو ځلېدل او تر نیمه پایلوبې رسېدل یوه تصادفي پیښه نه، بلکې د یو منظم او اوږدمهاله پلان پایله وه. افغان ځوانانو په ګروپي پړاو کې د سویلي افریقا او ویسټ انډیز په څېر د کرکټ سترو او پیاوړو هېوادونو اړوند نولس کلنو ته ماتې ورکړې او له خپل ګروپ څخه یې د مخکښې لوبډلې په توګه دویم پړاو او بیا په یوې بلې بریا سره یې د نړیوال جام نیمه پایلوبو پړاو ته لار ومونده. که څه هم په نیمه پایلوبه کې یې سفر پای ته ورسېد، خو د نړۍ د ۲۰ غوره لوبډلو له منځه په څلورو غوره لوبډلو کې ځای خپلول د افغانستان لپاره ستر ویاړ او غټه لاسته راوړنه ده.

پوښتنه دا ده چې دا لوبډله څنګه جوړه شوه؟ له کومو پړاوونو تېره شوه؟ او تر ټولو مهمه دا چې د افغانستان کرکټ بورډ د دې ځوانو ستورو د راتلونکي لپاره څه پلانونه لري؟ په دې لیکنه کې پر همدې موضوعاتو هر اړخیز بحث کوو.

### لومړی پړاو: له ننګونو ډک پیل او د لوبغاړو د غوراوي بهیر

د ۲۰۲٦ کال نړیوال جام ته د افغان لوبډلې سفر د ۲۰۲۴ کال په وروستیو کې پیل شو. څرنګه چې په تېر ۲۰۲۴م کال نړیوال جام کې افغان لوبډلې مطلوبې پایلې نه وې ترلاسه کړې، نو د ۲۰۲٦ کال جام ته یې مستقیمه لارمونده (Direct Qualification) له لاسه ورکړې وه. دا پدې مانا وه چې افغان ځوانان باید لومړی د اسیایي هېوادونو په کچه د غوراوي له سخت پړاو څخه تېر شوي وای.

د با استعداده لوبغاړو لټون او د غوراوي پروسه: د یوې پیاوړې لوبډلې د جوړولو لپاره، افغانستان کرکټ بورډ د هېواد په کچه پراخې ازموینې پیل کړې. په دې پروسه کې د ټولو زونونو څخه شاوخوا ٦۰۰۰ ځوانو لوبغاړو ګډون وکړ. له دې ستر شمېر څخه د یوې شفافې پروسې په پایله کې ۱۰۰ غوره لوبغاړي وټاکل شول. دغه ۱۰۰ لوبغاړي د څو پړاو تمریناتو او سیالیو وروسته






۳۰، بیا ۲۱ او بالاخره ۱۹ غوره لوبغاړو ته راښکته شول، چې ورپسې د نړیوالو سیالیو لپاره چمتو شول.

### دویم پړاو: تمریناتي کمپونه او چمتووالی:

نړیوال جام ته د تګ لپاره د لوبغاړو د طبیعي وړتیا ترڅنګ سختو تمریناتو او چمتووالي ته اړتیا وه. افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲۴م کال له نیمایي وروسته په خوست او ننګرهار ولایتونو کې دوه پړاو اوږده تمریناتي کمپونه برابر کړل چې هر یو یې تر یوې میاشتې ډېر دوام وکړ. د دغو تمریناتي کمپونو په ترڅ کې یې افغان لوبغاړو د ښلابښلو کورنیو او بهرنیو مجربو روزونکو تر څارنې لاندې د لوبې پر درې واړو برخو او دغه راز په تخنیکي، تکتیکي او فزیکي اړخونو کې د سخت تمریناتو ترڅنګ ګڼ شمېر خپلمنځي تمریناتي سیالۍ هم ترسره کړې.

د لوبډلې په چمتووالي په بهیر کې یوازې تمرینات شامل نه و، بلکې د لا زیاتې تجربې د ترلاسه کولو لپاره افغانستان کرکټ بورډ دغې ځوانې لوبډلې ته ګڼ شمېر نړیوالې سیالۍ هم برابرې کړې. افغان لوبډلې د ۲۰۲۴م کال په وروستیو کې متحده عربي اماراتو ته سفر وکړ او هلته یې د پاکستان او متحده عربي اماراتو پر وړاندې په درې اړخیزه لوبلړۍ کې ګډون وکړ، چې نه یوازې خپلې ټولې لوبې یې وګټلې، بلکې د یادې درې اړخیزې لوبلړۍ اتلولي یې هم خپله کړه. همدارنګه یې د ۲۰۲۴م کال په اسیا جام کې ګډون وکړ چې لوبغاړو ته یې د نړیوال کرکټ لوبې تجربه ورکړه.

له دې وروسته افغان لوبډلې د غوراوي پړاو سیالیو لپاره چې په نیپال کې ترسره کېدلې، ځانګړې چمتووالی ونیو. د دې لپاره چې افغان لوبډله د نیپال له اقلیم او پیچونو سره بلدتیا پیدا کړي، افغانستان کرکټ بورډ د کوربه هېواد د ۱۹ کلنې لوبډلې پر وړاندې افغان لوبډلې ته درې لوبې برابرې کړې چې په پایله کې یې افغان ځوانانو دغه لوبلړۍ ۱-۲ په خپل نوم کړه.

### دریم پړاو: نړیوال جام ته لارمونده

د ۲۰۲۵م کال په مارچ میاشت کې د ۲۰۲٦م کال نوولس کلنو لوبغاړو نړیوال جام لپاره د دویمه درجه اسیایي هېوادونو د غوراوي پړاو سیالۍ پیل شوې. په دې سیالیو کې ۵ لوبډلو ګډون درلود او سخته دا وه چې یوازې یوې لوبډلې نړیوال جام ته لار موندله. د افغان ځوانانو پر وړاندې د تېروتنې هیڅ ګنجایش نه و. افغان لوبډلې په ډېرې ځیرکۍ او مهارت سره د عمان، هانګ کانګ او متحده عربي اماراتو پر وړاندې بریاوې خپلې کړې. په یادو سیالیو کې بله پیاوړې لوبډله د کوربه نیپال لوبډله وه، چې هغې هم له دې وړاندې درې بریاوې خپلې کړې وې، نو د افغانستان او نیپال ترمنځ لوبې د



پایلوبې حیثیت درلود چې ګټونکې لوبډلې به یې نړیوال جام ته لاره موندله. دغه لوبه د شدید او مسلسل باران له امله ترسره نه شوه، خو د ښه نېټ رنریټ له برکته افغان لوبډلې د جدول په سر کې ځای خپل کړ او د ۲۰۲۶ نړیوال جام ټیکټ یې ترلاسه کړ.

## څلورم پړاو: د نړیوال جام لپاره وروستي او هر اړخیز چمتووالی

نړیوال جام ته له لارمونډنې وروسته، د افغانستان کرکټ بورډ هلې ځلې نورې هم زیاتې او ګړندۍ شوې. افغانستان کرکټ بورډ د کورنیو او بهرنیو مجربو روزونکو په شتون کې په ننګرهار او خوست ولایتونو کې نوي یو میاشتني کمپونه پیل کړل، چې دواړو کمپونو نږدې ۳ میاشتې دوام وکړ. سربېره پر دې، لوبډلې ته د لا غوره چمتووالي په موخه نړیوالې سیالۍ او سفرونه تنظیم شول. افغان لوبډلې د ۲۰۲۵م کال په اکتوبر میاشت کې بنګله دېش ته سفر وکړ او د ۵ یو ورځنیو سیالیو لوبلړۍ یې ولوبوله. له دې وروسته یې هند ته سفر وکړ او د یاد هېواد د الف او ب لوبډلو پر وړاندې یې په یوه درې اړخیزه لوبلړۍ کې ګډون وکړ، چې په ترڅ کې یې افغان ځوانانو له ۴ لوبو ۳ وګټلې او پایلوبې ته ورسېدل، چې وروسته بیا پایلوبه د ورښت له امله بې پایلې پای ته ورسېده او د ډېرو لوبو ګټلو له برکته د لوبلړۍ جام افغان لوبډلې ته ورکړل شو.

هندوستان ته له سفر وروسته افغان لوبډلې په اسیا جام سیالیو کې ګډون وکړ. که څه هم په دغو سیالیو کې د افغان لوبډلې د لوبو پایلې د تمې خلاف وې، خو د لویو لوبډلو پر وړاندې تر وروستي توپه سختې مقابلې لوبغاړي نور هم پاخه کړل. په اسیا جام سیالیو کې له ګډون وروسته افغانستان کرکټ بورډ افغان لوبډله د نړیوال جام کوربه هېواد (زمبابوې) ته له وخت مخکې ولېږله او هلته یې له پاکستان او زمبابوې سره درې اړخیزه لوبلړۍ کې ګډون وکړ، دغه سیالۍ د دې لامل شوې چې لوبغاړي د نړیوال جام د کوربه هېواد له پیچونو او هوا سره په بشپړه توګه بلد شي.

## پنځم پړاو: په نړیوال جام کې تاریخ جوړونه

د همدې بې ساري چمتووالي او مسلسلو نړیوالو





سفرونو او سیالیو پایله وه چې افغان لوبډلې نړیوال جام په طوفاني بڼه پیل کړ. د کرکټ نړیوالې شورا له لوري یې په رسمي تمریناتي لوبه کې استرالیا ته ماتې ورکړه چې دغې لوبې هیله مندي لا زیاته کړه او نورو لوبډلو ته یې یو ډول د خطر زنګ هم ورکړ. همداسې وشول، افغان لوبډلې د نړیوال جام په اصلي سیالیو کې د سویلي افریقا، ویسټ انډیز او تانزانیا پر وړاندې پرلپسې بریاوې خپلې کړې چې دغو بریاوو افغان لوبډله د ګروپ د مخکښې لوبډلې په توګه دویم پړاو ته ورسوله. په دویم پړاو کې یې یوازې د یوې بلې بریا په خپلولو سره د خپل کرکټ په تاریخ کې د درېیم ځل لپاره د نړیوال جام نیمه پایلوبو ته لاره وموندله. افغان لوبډلې په نیمه پایلوبه کې د فیصل خان شینوزاده او عزیر خان د سلیزو پرمټ د هندوستان نوولس کلنې ملي لوبډلې ته د ۳۱۱ منډو هدف وټاکه، چې وروسته د سیالۍ لوبډلې له لوري ترلاسه شو او په نړیوال جام سیالیو کې د افغان لوبډلې سفر د نیمه پایلوبو په پړاو کې پای ته ورسېد.

په دې سیالیو کې فیصل خان شینوزاده له ۴۰۰ زیاتې منډې جوړې کړې او نصرت الله نورستاني ۱۴ ویکټې ترلاسه کړې، چې د ټورنمنټ له غوره لوبغاړو څخه وو. د دوی ترڅنګ عزیر الله خان نیازي، خالد احمدزي، محبوب خان، عثمان خان، خاطر ستانکزي، واحدالله ځدراڼ، عبدالعزیز خان او نورو ځوانانو هم ښې لوبې وکړې چې د افغانستان د کرکټ د روښانه راتلونکي د زېرې په معنی دی.

## شپږم پړاو: راتلونکي پلانونه او د افغانستان کرکټ بورډ لرلید

د کرکټ په نړۍ کې یوازې استعداد لرل کافي نه دي، بلکې د هغه پالل او په سم لوري سوق کول تر ټولو مهمه خبره ده. له همدې کبله، د افغانستان کرکټ بورډ د نولس کلنو لوبډلې د دغو ځوانو ستورو لپاره دقیق او منظم پلانونه لري چې له مخې به یې دوی ګام په ګام د نړیوال کرکټ د لوړو معیارونو لپاره چمتو کېږي. د افغانستان کرکټ بورډ د لومړي او بنسټیز ګام په توګه به دغو لوبغاړو ته په کورني کرکټ کې د لوبېدو موقع ورکړل شي. پلان دا دی چې دغه ځوانان لومړی د




زونونو په کچه په درې ورځنیو سیالیو کې ولوبېږي ترڅو له سور بال کرکټ سره هم بلد شي چې د سپین بال لوبو په پرتله ډېر زغم او حوصله غواړي. له دې وروسته به دغه لوبغاړي په تدریجي ډول په څلور ورځنیو (فرسټ کلاس) او یو ورځنیو (لېسټ اې) لوبو کې ولوبول شي. دغه راز به دغو لوبغاړو ته په ملي شل اوریز جام او اړتیا ته په کتو په شپږیزه کرکټ لیګ سیالیو کې هم د لوبېدو موقع ورکړل شي. دا پړاوونه د یوه نوي لوبغاړي په ظرفیت لوړونه او د هغه د تخنیکي نیمګړتیاوو د اصلاح لپاره ډېر اړین دي او د دوی په پرمختګ کې حیاتي رول لري.

د دې ترڅنګ، د افغانستان کرکټ بورډ د دې اصل په درک کولو سره چې مسلکي کرکټ له مالي امنیت پرته ناشونی دی، د کورني کرکټ په جوړښت کې انقلابي بدلونونه راوستي دي. د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه په خپل بې ساري اقدام سره د کورنیو سیالیو امتیازات نږدې ۳۰۰ سلنه لوړ کړي دي. د بېلګې په توګه، اوسمهال یو لوبغاړی یوازې د یوې څلور ورځنۍ لوبې په بدل کې ۲۵۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي. دغه راز د یوې لېسټ اې لوبې فیس له ۴۰۰۰ څخه ۸۰۰۰، بیا ۱۲۰۰۰ او اوسمهال ۱۸۰۰۰ ته لوړ شوی دی. دې ته ورته، په شپږیزه کرکټ لیګ سیالیو کې لوبغاړي د یوې لوبې لپاره ۵۰۰ امریکایي ډالره ترلاسه کوي. سربېره پر دې، هر کال نږدې ۵۰ غوره کورنیو لوبغاړو ته په درې بېلابېلو کټګوریو کې میاشتنۍ تنخوا ورکول کېږي. د دې مالي ملاتړ اصلي موخه دا ده چې ځوان لوبغاړي د ژوند له نورو اقتصادي ستونزو او اندېښنو خلاص وي او خپل ټول پام یوازې او یوازې د خپلې لوبې پر کیفیت او پرمختګ ور ټول کړي.

د کورني کرکټ د کیفیت د لوړولو په برخه کې بل مهم ګام د نړیوالو معیارونو پلي کول دي. اوسمهال د افغانستان کورنۍ سیالۍ یوازې تش په نامه لوبې ندي؛ بلکې پکې د نړۍ په کچه منل شوي کوکابورا (Kookaburra) توپونه، چې نړیوالې لوبې پرې ترسره کېږي، کارول کېږي. دغه راز هر کال څلور یا پنځه ستر ټورنمنټونه په ژوندۍ بڼه د تلویزیون له لارې خپرېږي. کله چې یو ځوان






لوبغاړی د تلویزیون د کامرو او د زرګونو مینه والو پر وړاندې، په کوکابورا توپ لوبې ترسره کوي، نو هغه په طبیعي ډول د نړیوال کرکټ له فشار سره بلدېږي او په راتلونکي کې په ملي لوبډله کې د لوبېدو پر مهال له ستونزو سره نه مخ کېږي.

په پای کې، هغه لوبغاړي چې له دغه کورني سیستم څخه په بریالیتوب تېر شي او خپله وړتیا ثابته کړي، د ملي لوبډلې لپاره د وروستي فلټر یا د افغانستان الف (افغان ابدالیان) لوبډلې ته لار پیدا کوي. الف لوبډله د ملي او کورني کرکټ ترمنځ د یوه قوي پل حیثیت لري، چې د افغانستان کرکټ بورډ د ستراتیژیک پلان (۲۰۳۰-۲۰۲۶) له مخې به هر کال حد اقل ۲۰ نړیوالې لوبې ترسره کوي.

د افغانستان الف لوبډلې په تېرو څو کلونو کې ملي لوبډلې ته یو شمېر خورا پیاوړي لوبغاړي ورکړي دي او د هېواد د کرکټ په پرمختګ کې یې اړین رول لوبولی دی. صدیق الله اتل، محمد غضنفر، محمد اسحاق رحیمي، درویش رسولي، ننګیال خروټی، بلال سمیع او یو شمېر نور لوبغاړي یې ملي لوبډلې ته ورکړي دي چې بیا دې هر یوه لوبغاړي په ملي لوبډله کې د پام وړ لوبې کړې او هېواد غوره استازیتوب یې کړی دی. لکه څنګه چې پورته ذکر شوي لوبغاړي له همدې لارې ملي لوبډلې ته راغلل، دغه نوي ځوانان به هم له همدې مسلکي پروسې تېرېږي.

د نولس کلنو لوبډلې بریا او په نړیوال جام کې تر نیمه پایلوبې رسېدل د افغانستان کرکټ بورډ د همدې اوږدې، سترې کوونکې خو اغېزناکې پانګونې او ډېرو مصارفو پایله ده. افغانستان کرکټ بورډ ژمن دی چې د دې ځوانانو لاسنیوی وکړي، په کورني سیستم کې یې وروزي او د راتلونکي لپاره یې د هېواد د راتلونکو استازو په توګه نړۍ ته وړاندې کړي. د افغان کرکټ راتلونکی له شک پرته په همدې ځوانانو پورې تړلی دی او دوی ثابته کړه چې د دې مسوولیت د اخیستلو پوره وړتیا لري.



# افغان ملي لوبډلې په

## شل اوریزه لوبلړۍ کې ویسټ انډیز لوبډلې ته ۲-۱ ماتې ورکړه



افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د شل اوریز نړیوال جام لوبو له پیل وړاندې د ویسټ انډیز کرکټ ملي لوبډلې کوربه توب وکړ او په دغه شل اوریزه لوبلړۍ کې یې د ۲-۱ په توپیر سره بریا په خپل نوم کړه او د نړیوال جام سیالیو ته په بریا او بشپړ چمتووالي سره ولاړه.

د ویسټ انډیز او افغان ملي لوبډلو ترمنځ د شل اوریزه سیالیو دغه لوبلړۍ چې د متحده عربي اماراتو په دوبۍ نړیوال کرکټ لوبغالي کې ترسره شوه، په لومړۍ او دویمه لوبه کې افغان ملي لوبډلې او په وروستۍ دریمه لوبه کې ویسټ انډیز کرکټ ملي لوبډلې بریا ترلاسه کړه.



د افغانستان او ویسټ انډیز لوبډلو ترمنځ د یادې لوبلړۍ لومړۍ لوبه د ۲۰۲٦ز کال د جنورۍ په ۱۹مه نېټه ترسره شوه. په دغه لوبه کې لومړۍ افغان ملي لوبډلې توپوهنه ترسره کړه چې د پیلیز توپوهونکي ابراهیم ځدراڼ د ۸۷ او درویش رسولي د ۸۴ منډو پر مټ د ۱۸۲ منډو هدف وټاکه. ویسټ انډیز لوبډلې د افغان اتلې لوبډلې د هدف په ځواب کې په ټاکلو ۲۰ اورونو کې ۱۴۳ منډې جوړې کړې او ۳۸ منډو په توپیر افغان اتلانو بریا ترلاسه کړه. په توپ اچونه کې ضیاء الرحمن شریفي ۳، مجیب الرحمن، راشدخان او نوراحمد هر یوه ۲ ویکټې په خپل نوم کړې.

د لوبلړۍ دویمه لوبه چې د جنورۍ میاشتې په ۲۱مه

ترسره شوه، افغان اتلانو پکې د ۳۹ منډو په توپیر بریا ترلاسه کړه. په دغه لوبه کې هم افغان ملي لوبډلې لومړی توپوهنه وکړه او درويش رسولي د ٦٨ او صديق اتل د ۵۳ منډو پر مټ یې د ۱۹۰ منډو هدف وټاکه. ویسټ انډیز لوبډلې د دغه هدف په تعقیب کې د ټولو ویکټو په تاوان ۱۵۰ منډې ترسره کړې. د افغان ملي لوبډلې توپ اچونه کې مجيب الرحمن ۴، فضل الحق فاروقي او عظمت الله عمرزي ۲-۲ لوبغاړي د لوبې له ډگره بهر کړل.



د لوبلړۍ وروستۍ او دریمه لوبه چې د جنورۍ میاشتې پر ۲۲مه د دوبی په نړيوال لوبغالي کې ترسره شوه، لومړی پکې ویسټ انډیزۍ لوبډلې د ۱۵۲ منډو هدف وټاکه، چې افغان ملي لوبډلې ورپسې یوازې ۱۳٦ منډې جوړې کړې. دغه لوبه کې د ملي لوبډلې بریدگر توپوهونکي رحمن الله گربز ۷۱ منډې جوړې کړې وې. د لوبې په وروستیو کې د ملي لوبډلې پیاوړی توپوهونکی درويش رسولي د ۱۵٦ منډو په جوړولو سره د يادې لوبلړۍ د غوره لوبغاړي جایزه په خپل نوم کړه.

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې په دغه لوبلړۍ سره د ښه تیاري وروسته نړيوال جام ته وخوځېده، چې د مینه والو د هیلو سره سم یې ښکلي لوبې ننداري ته



وړاندې کړې. افغان کرکټ بورډ تل په دې هڅه کې دی چې د نورو کرکټ بورډونو سره په تفاهم د ملي لوبډلو لپاره نړيوالې سيالۍ برابرې کړي، څو ملي لوبغاړي د نړيوالو سيالیو لپاره لا چمتو او د کرکټ نړيوالې شورا په درجه بنديو کې ښو مقامونو ته ورسيږي.













# د هېواد

## په بېلابېلو ولايتونو کې رمضان جام سيالۍ ترسره شوې

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې د لارښوونې سره سم د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د اړوند ولايتي امريتونو له لوري رمضان جام ۱۰ اوريزې او شل اوريزې سيالۍ ترسره شوې چې تر ډېره يې لس اوريزه بڼه د ورځې له مخې او شل اوريزه بيا د شپې له مخې ترسره شوې.

دا چې کرکټ داسې يوه لوبه ده چې دوامداره تمرين ته اړتيا لري ترڅو لوبغاړي په فام کې پاتې شي، په همدې موخه په روژه کې د کرکټ بورډ اړوند ولايتي امريتونو له لوري او همدارنګه د خصوصي سکتور له لوري په













د هېواد په مختلفو سيمو کې رمضاني سيالۍ ترسره شوې.

په دې سياليو کې نه يوازې د کورني کرکټ ځوان لوبغاړي ولوبېدل، بلکې ډېر ارزښت يې په دې کې و چې د افغانستان د کرکټ د ملي، ملي ۱۹ کلنې او الف لوبډلې لوبغاړي هم پکې ولوبېدل چې څرګنده ده ځوانو لوبغاړو به ترې ډېر څه زده کړي اوسي.

د دغو سياليو پر مټ ډېر ملي شرکتونه وتوانېدل چې د سياليو د ملاتړ له لارې خپلو توليداتو او خدماتو ته بازار ومومي او همدارنګه د رسنيو د پوښښ او بوختيا لپاره يو ښه فرصت رامنځته شو.

د دې ټولو ترڅنګ د کرکټ د مينه والو او نندارچيانو لپاره يو ښه سرګرمي وه او دوی په دوامداره ډول د ورځې او شپې له خوا د دغو سياليو ليدلو ته راغلل او د لوبو د ننداري ترڅنګ يې خپل د خوښې لوبغاړي له نږدې وليدل او دوی سره يې د انځورونو ويستلو او ويډيوګانو ثبتولو له لارې خپلې خوږې خاطرې خوندي کړې.

# ابراهیم ځدراڼ د شل اوریزو سیالیو لپاره د افغان لوبډلې نوی لوبډلمشر وټاکل شو



د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې ځوان او تکړه پیلیز توپوهونکی ابراهیم ځدراڼ د شل اوریزو نړیوالو سیالیو لپاره د افغان لوبډلې نوی لوبډلمشر وټاکل شو. نوموړی له دې وړاندې د لوبو په یاده بڼه کې د مرستیال لوبډلمشر دنده پرمخ بیوله او د اړتیا پرمهال یې د راشد خان په نشتون کې د لوبډلې مشري هم کړې ده.

ابراهیم ځدراڼ په رسمي توګه د لوبډلمشر په توګه له ټاکل کېدو وړاندې په ۱۱ لوبو کې د افغان لوبډلې لوبډلمشري هم کړې وه، چې په ۵ لوبو کې یې بریاوې خپلې کړې وې، ۵ لوبو کې افغان لوبډله له ماتې سره مخ شوې وه او یوه لوبه مساوي پای ته رسېدلې ده.

دغه پیلیز توپوهونکي د لوبغاړي په توګه تر دې مهاله ۶۵ شل اوریزې نړیوالې لوبې ترسره کړې دي چې د ۳۳.۳۰ منډو په اوسط او ۱۱۵ سټرایک ربټ سره یې د ۱۶ نیمه سلیزو پرمټ ۱۸۶۵ منډې جوړې کړې دي، چې په توپوهنه کې یې ۱۷۲ څلوریزې او ۴۵ شپږیزې هم شاملې دي.

ابراهیم ځدراڼ په شل اوریزو نړیوالو سیالیو کې د نیمه سلیزو له حسابه له ټولو افغان لوبغاړو مخکښ دی او بل هېڅ افغان لوبغاړی تر دې مهاله ۱۶ نیمه سلیزې ندي جوړې کړې.

د افغانستان کرکټ بورډ د ملي لوبډلې د پخواني لوبډلمشر راشد خان د تاریخي لاسته راوړنو، سترو بریاوو، هلو ځلو او مسلکي چلند ستاینه کوي او افغان کرکټ ته د



نوموړي د بېسارو خدمتونو په پار ترې ځانګړې مننه کوي. د راشد خان په لوبډلمشرۍ کې افغان لوبډلې د ۲۰۲۴ کال په شل اوریز نړیوال جام کې تاریخي بریاوې ترلاسه کړې؛ د نړۍ پیاوړو لوبډلو ته یې ماتې ورکړې او د یادو سیالیو د نیمه پایلوبو پړاو ته یې لار وموندە، چې د افغانستان د کرکټ په تاریخ کې یوه ستره لاسته راوړنه ګڼل کېږي.

څرنګه چې د افغانستان کرکټ بورډ د ۲۰۲٦ کال د شل اوریز نړیوال جام له پای ته رسېدو وروسته، ملي لوبډلې ته نوی مشر روزونکی وټاکه او په مدیریتي ډله کې یې هم اړین بدلونونه رامنځته کړل؛ نو د همدې اوږدمهاله ستراتیژیک پلان پر بنسټ یې پرېکړه وکړه چې د شل اوریزو سیالیو لپاره د لوبډلې په مشرۍ کې هم بدلون راولي.

ابراهیم ځدراڼ چې له دې وړاندې یې د راشد خان د مرستیال په توګه دنده ترسره کوله، د ملي لوبډلې د مشرۍ لپاره تر ټولو غوره انتخاب و. د نوموړي لوړې وړتیا، ځیرکتیا، نه ستړې کېدونکو هلو ځلو او دغه راز پر خپله لوبه او په ټوله کې پر لوبډله د هغه مثبت اغېز او انګېزې ته په کتو؛ تمه کېږي چې نوموړی به د افغان لوبډلې غوره مشري وکړي او د نورو لوبغاړو په ملتیا به افغان اتلان لا سترو بریاوو ته ورسوي.

د افغانستان کرکټ بورډ نوي لوبډلمشر، ابراهیم ځدراڼ ته د دغې نوې دندې په پار مبارکي وایي او په دې ستر مسوولیت کې ورته د لا زیاتو بریاوو هیله کوي.






اتصالات او نـور
etisalat and

اتصالات
etisalat

د اړیکو له نړۍ ورهاخوا

# شفاخانه امیر حاجی زاده

# Amir Hajizada Hospital

Amir Hajizada Hospital
Your Health is our priority




جراحی قلب



جراحی گوش، گلو وبینی



هماتو_آنکولوژی (امراض خون و سرطان ها)



جراحی اعصاب و ستون فقرات



شفاخانه امیر حاجی‌زاده با داشتن ۴۵ بستر فعال، امــکانات مدرن طبی و کادر متخصص و با تجربه، یکی از مراکز معتبر ارائه خدمات صحی به شمار می‌رود. این شــفاخانه با هدف ارائه خدمات با کیــفیــت و معــیاری،همواره تلاش نموده تا نیازهای صحی بیماران را به بهــترین شکل مــمکن برآورده سازد.

**دیپارتمنت‌های ذیل در این مرکز تخصصی فعال است:**

جراحی قلب ، انجیوگرافی و انجیوپلاستی ، گوش، گلو و بینی (ENT) جراحی اعصاب و ستون فقرات ، جراحی عمومی ، داخــله عمــومی هماتو–آنکولوژی (سرطان خون) ، اعصاب و روان ، داخله اطــفال اورتوپیدی و تراماتولوژی.

**همچنان، شفاخانه با در اختیار داشتن تجهیزات پیشرفته مانند:**

ام‌آرآی (MRI) — سی‌تی اسکن (CT Scan)
اکس‌ری (X-Ray) — لابراتوار و داوخانه مجهز .
التراسوند (Ultrasound)

سینما پامیر،مقابل شفاخانه میوند ۰۷۹۰–۷۷۷–۶۶۶ / ۰۷۳۰–۷۷۷–۶۶۶

Amir Hajizada Hospital



# افغان

Afghan Telecom

یگانه شرکت مکمل مخابراتــی ملی

# سلام

salaam

انتخاب افغانــها







## کریکت بورد افغانستان با شرکت مخابراتی ای اند و شرکت مشروبات غیرالکولی سوپرکولا قراردادهای حمایت مالی تمدید کردند

کریکت بورد افغانستان بار دیگر مشارکت و قرارداد حامی مالی عمومی را با شرکت مخابراتی اتصالات که اکنون به نام جدید (&e) فعالیت می‌کند، برای یک سال دیگر تمدید کرد. بر بنیاد این قرارداد تازه، شرکت (ای اند) تا پایان سال ۲۰۲٦ میلادی به عنوان حامی مالی عمومی در تمامی مسابقات بین‌المللی آینده تیم‌های ملی افغانستان و همچنان در مسابقات کرکت داخلی با کریکت بورد افغانستان درج خواهد بود.

مراسم امضای این قرارداد بتاریخ ۲۳ جنوری در تالار رسانه‌های میدان کرکت بین‌المللی دبی برگزار شد. در این مراسم، نصیب خان رئیس اجراییوی کریکت بورد افغانستان و عبدالله الجزیری رئیس اجراییوی شرکت (ای اند) همراه با عبید بوکیشه رئیس عملیاتی این شرکت و همچنان مسئولان بخش‌های بازاریابی و تجارتی هر دو نهاد و نمایندگان رسانه‌ها حضور داشتند.

در عین حال قرارداد حمایت مالی (Powered By) میان کریکت بورد افغانستان و شرکت ملی مشروبات غیرالکولی سوپرکولا برای دو سال دیگر تمدید شد. مراسم امضای این قرارداد بتاریخ ۲ ماه فبروری در مقر کریکت بورد افغانستان میان نصیب خان، رئیس اجراییوی کرکت بورد افغانستان، و شهاب قناویزیان، رئیس اجراییوی شرکت سوپرکولا برگزار گردید.

این قرارداد برای سال‌های ۲۰۲٦ و ۲۰۲۷ ا قابل اعتبار است که بر اساس آن، نشان و لوگوی شرکت سوپرکولا به عنوان حامی مالی همکار در تمامی مسابقات دو جانبه به میزبانی افغانستان، آسیایی و همچنان در تمام مسابقات کرکت داخلی، روی لباس بازیکنان تیم‌های ملی و داخلی درج خواهد شد. افزون بر این، تبلیغات این شرکت در میدان های کرکت نیز انجام می‌شود و از نشان تجارتی آن استفاده خواهد شد.



# تیر ۲۰۲۵ ز کال کې ترسره شوي پرمختیایي پروژې او راتلونکي پلانونه

د افغانستان کرکټ بورډ د انجنیرۍ څانګې له لوري تېر کال د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې یو شمېر پروژې پیل شوې چې ځینې یې بشپړې او ځینې یې لاهم تر کار لاندې دي چې دلته یې په لاندې ډول یادونه کوو:



په سپین غر زون کې د نجیب الله تره کي کرکټ لوبغالي اړوند اکاډمۍ لا پسې پراخه شوه او نوي ویشتنځایونه پکې جوړ شول. همدارنګه په لغمان ولایت کې د لوبغالي پاتې چارې بشپړې شوې چې پکې د میدان هوارې، چمن زرغونول، د اوبیزې او لمریزې بریښنا شبکو جوړول او ویشتنځایونو جوړول شامل دي. همدارنګه د یاد لوبغالي ترڅنګ یوه مجهزه اکاډمي هم جوړه شوه چې پکې د ځمکې هوارې، چمن شنه کول او د ۴ بېلابېلو ویشتنځایونو جوړول شامل دي.







د بند امیرزون په میدان وردګ ولایت کې یوه مجهزه کرکټ اکاډمي جوړه شوه چې په اړوند چارو کې یې د ځمکې هوارې، چمن زرغونول، او ۴ ویشتنځایونو جوړول شامل دي چې ۲ یې کانکریټي او دوه نورې یې شنې ویکټې دي.


په مس عینک زون کې د خوست ولایت رحمت ولي مسرور کرکټ لوبغالي کې د نندارچیانو د ناستې ځایونو پراخولو پروژه پیل شوې چې پر مټ به یې ظرفیت له ۷۰۰۰ څخه ۱۵۰۰۰ نفرو ته ورسیږي او د دې پروژې چارې نږدې ۹۰ سلنه ترسره شوې چې په نږدې ورځو کې به پای ته ورسیږي.




دغه راز په یاد زون کې د لوګر کرکټ لوبغالي او اکاډمۍ پروژې هم تطبیق شوې چې د لوبغالي په چارو کې یې د هوارې، چمن زرغونولو، اوبو او لمریزې بریښنا شبکې او اداري خونو جوړول شامل دي. همدارنګه یې د اکاډمۍ لپاره د ځمکې هوارې، چمن شنه کول او ۴ بېلابېلو ویشتنځایونو جوړول شامل دي.



همدارنګه په پکتیکا کې هم یوه باب اکاډمي جوړه شوه چې پکې د ځمکې هوارې، چمن شنه کول او ۴ دول ویشتنځایونو جوړول شامل دي.





په امو زون کې د کندز کرکټ لوبغالي اړوند اکاډمۍ د پراختیا پروژه پلې شوه او همدارنګه د لوبغالي د پویلین د دویم منزل چارې په عصري ډول ترسره شوې.

په یاد زون کې د بلخ ولایت د اکاډمۍ چارو د بشپړولو وروسته د لوبغالي د بیارغونې پروژه هم پیل شوه چې پکې د میدان هوارۍ، چمن شنه کول او د میدان شا وخوا ویالې جوړولو چارې شاملې دي.

دغه راز په دې زون کې د بغلان کرکټ لوبغالي او اکاډمۍ د رغونې چارې هم پیل شوې چې د میدان په







برخه کې پکې د ځمکې هوارۍ، چمن شنه کول، اوبه رسولو شبکې، او احاطې جوړولو چارې شاملې دي او همدارنګه یې اکاډمۍ لپاره د ځمکې هوارې، چمن شنه کول او ویشتځایونو جوړول شامل دي.

باید وویل شي چې په ۲۰۲٦ز کال کې د کابل الوخېلو نړیوال کرکټ کمپلکس او ننګرهار نجیب الله تره کي کرکټ لوبغالي لپاره ۸ میلون ډالر ځانګړې شوي، د پروژو تدارکاتي چارې یې جریان لري او ډېر ژر به یې رغنیزې چارې هم پیل شي.

د کابل الوخېلو نړیوال کمپلکس په لومړي فاز چارو کې د احاطوي دیوال، لوبغالي او اکاډمۍ لپاره د ځمکې هوارۍ، او چمن شنه کولو چارې شاملې دي. همدارنګه د نجیب الله تره کي کرکټ لوبغالي کې بیا دوه پوړیزه عصري پویلین او نندارچیانو لپاره د سټیندونو جوړولو چارې شاملې دي.



# د راتلونکو نړیوالو

## سیالیو لپاره د ملي لوبډلې تمریناتي کمپ پیلیږي

په تېره مارچ میاشت کې د سریلانکا پر وړاندې د افغانستان ملي لوبډلې د سپین توپ دوه لوبلړۍ چې د له ۱۳مې تر ۲۵ پورې په متحده عرب اماراتو کې پلان شوې وې چې په منځني ختیځ کې د جګړې له امله وځنډېدې. په دغه سیالیو کې درې شل اوریزې لوبې یې شارجه کرکټ لوبغالي او درې یو ورځنۍ لوبې یې په دوبۍ نړیوال کرکټ لوبغالي کې تنظیم شوې وې، خو په سیمه کې د روان کړکیچ له امله چې د سیالیو لوژستیکي چارې او پروازونه یې د ځنډ او خنډ سره مخ کړي وو، یادې سیالۍ وځنډېدې.

د افغانستان کرکټ بورډ د نړیوال کرکټ ځانګې د سریلانکا کرکټ بورډ او شارجه او دوبۍ لوبغالو مسوولینو سره د سلا مشورو وروسته دغه سیالۍ د روان ۲۰۲٦ کال وروستۍ ربعې ته وځنډولې او په ډېر احتمال د دغې لوبلړۍ د سیالیو لپاره به په دسمبر میاشت کې نوې نېټې غوره شي.

دا چې د اوس لپاره دغه سیالۍ ځنډیږي، د افغانستان کرکټ بورډ د نړیوالو سیالیو د مهالوېش له مخې زموږ راتلونکې نړیوالې سیالۍ به د جون په میاشت کې د هندوستان په وړاندې د هغوی په کوربه توب ترسره شي چې په لړ کې به یې یوه ټېسټ او ۳ یو ورځنۍ سیالۍ وشي.

د دې لپاره چې د یادو سیالیو لپاره افغان ملي لوبډلې پوره چمتووالی نیولی وي، له وخت څخه په ګټه اخیستنې په اپریل او مې میاشتو کې د ملي او الف لوبډلو د لوبغاړو لپاره په کابل او ننګرهار کې څلویښت ورځنۍ تمریناتي کمپ پیلیږي چې موخه یې د لوبغاړو د معاصر نړیوال کرکټ د معیارونو برابرول دي، د هغوی تخنیکي مهارتونه، فزیکي چمتووالی او تاکتیکي پوهه لا پیاوړې کړي. همدارنګه د ټیم یووالی، نظم او د سیالیو لپاره چمتووالی زیات کړي، ترڅو لوبډله په راتلونکو نړیوالو سیالیو کې د ښه فعالیت لپاره بشپړه چمتو شي.

د دې روزنیز کمپ لومړی پړاو به په کابل ملي کرکټ لوبغالي او اکاډمیو کې د اپریل له ۳مې نېټې پیل او د همدې میاشتې تر ۲۵مې نېټې به دوام وکړي او دویمه برخه به یې بیا د ننګرهار په نجیب الله تره کي کرکټ لوبغالي او اکاډمۍ کې د اپریل له ۳۱مې نېټې شروع او د مې میاشتې تر ۱۴مې نېټې به دوام وکړي. باید وویل شي چې دې کمپ کې به د لوړو مهارتونو مرکز د ملي او بهرنیو روزونکو، ټرینرانو، مساژرانو او ډاکټرانو له لوري لوبغاړو سره په ګډه کار وشي.

همدارنګه له کمپ وروسته د کورني کرکټ سترې یو ورځنۍ سیالۍ هم په پام کې نیول شوې چې د جون میاشت په لومړیو اونیو کې به ترسره شي، ترڅو په همدې میاشت کې د هندوستان پر وړاندې د یو ورځنیو سیالیو لپاره ښه چمتووالی ترسره شي.






# د وزیر محمد اکبر خان

## خان دویمه درجه ولایتي سیالۍ ترسره شوې









د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ د لوبیز مهالوېش سره سم د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالۍ د هېواد په څلور ولایتونو کې ترسره شوې. د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالیو کې سږ کال ۴۰ بېلابېلو لوبډلو ګډون درلود چې په اتو بېلابېلو ګروپونو کې یې یو د بل پر وړاندې لوبې ترسره کړې او د هر ګروپ مخکښه لوبډله د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي سیالیو ته ورسېده.

د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالۍ د کندهار او خوست پر دوه-دوه او د کونړ او ننګرهار پر یو-یو لوبغالي ترسره شوې.

د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالۍ چې موخه یې د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي سیالیو ته د غوره لوبغاړو او مخکښو لوبډلو موندل دي، په سږنیو لوبو کې هم پیاوړي او نوي ځوان استعدادونه وځلېدل او د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي









سیالیو کې یې خپلې وړتیاوې او مهارتونه نندارې ته وړاندې کړل.

د یادو دویمه درجه ولایتي سیالیو په لومړي الف ګروپ کې ننګرهار، بلخ، کابل ب، سمنګان او زابل لوبډلو ګډون درلودی، چې ننګرهار لوبډلې پکې پرته له کومې ماتې د څلورو بریاوو په ترلاسه کولو د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي سیالیو ته لار وموندله. د دغه ګروپ په نورو لوبډلو کې بلخ په ۳ بریاو دویم، کابل ب په ۲ بریاو دریم، سمنګان په یوې بریا څلورم او زابل پرته له کومې ګټې پنځم مقام ترلاسه کړ.

د سیالیو په دویم ب ګروپ کې هم پنځو لوبډلو ګډون کړی و، چې له مخې یې ننګرهار ب لوبډلې د لومړي مقام په نیولو سره د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه لوبو ته لار وموندله. ننکرهار ب، بدخشان او کونړ لوبډلو یاد ګروپ کې ۳-۳ بریاوې ترلاسه کړې، خو ننګرهار ب لوبډلې د ښه نیټ رنریټ له مخې د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه لوبو ته لار وکړه. په نورو لوبډلو کې جوزجان په یوې بریا څلورم او کابل ج لوبډلې پرته له کومې بریا ۵م مقام ترلاسه کړ.

په ج ګروپ کې بیا د کابل الف لوبډلې په ۴ بریاوو ترلاسه کولو د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه لوبو ته لار وموندله. د دغه ګروپ په نورو لوبډلو کې میدان وردګ په ۳ بریاوو دویم، فراه په ۲ بریاوو دریم، کندهار په یوې بریا څلورم او اروزګان بغیر له کومې بریا پنځم مقام ونیوه.

د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه سیالیو په (د) ګروپ کې خوست لوبډلې په یوې ماتې او ۲ بریاوو د ګروپ سر کې ځان وساته او د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه سیالیو ته یې لار وموندله. په نورو لوبډلو کې کابل،






تخار او کندز لوبډلو په ۲-۲ بریاو د نیټ رنریټ له مخې دویم، دریم او څلورم خو کاپیسا بیا په یوې بریا پنځم مقام ترلاسه کړ.

د سیالیو په (ای) گروپ کې بیا لوگر، خوست الف، بغلان، فاریاب او پروان لوبډلو برخه درلوده، چې لوگر پکې پرته له کومې ماتې د لومړي مقام په خپلولو د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه لوبو ته لاره وکړه. په نورو لوبډلو کې خوست الف په ۳ بریاوو دویم، بغلان په دوه بریاوو دریم، فاریاب په یوې بریا څلورم او پروان پرته له کومې گټې پنځم مقام په خپل نوم کړ.

د (ایف) گروپ په سیالیو کې بیا د پکتیکا لوبډلې ښکلې لوبې ننداري ته وړاندې کړې او پرته له کومې ماتې یې د گروپ په لومړي مقام نیولو د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه لوبو ته لار ومونده. په دغه گروپ کې ننگرهار الف لوبډلې په ۳ بریاوو دویم، کندز په ۲ بریاوو دریم، سرپل په یوې بریا څلورم او نورستان پرته له کومې بریا پنځم مقام ترلاسه کړ.

د اووم گروپ په سیالیو کې بیا د کندهار الف لوبډلې وکولی شول، چې ۳ بریاوې خپلې کړي او د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه لوبو ته لار ومومي. د یاد گروپ په نورو لوبډلو کې کابل ډي، غزني او هلمند لوبډلو په ۲-۲ بریاوو د نیټ رنریټ له مخې دویم، دریم او څلورم مقامونه او پکتیا په یوې بریا سره پنځم مقام ونیوه.

د سیالیو په وروستي (ایچ) گروپ کې خوست ب لوبډلې په ۳ بریاو د غوره نیټ رنریټ له مخې وکولی شول چې د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه لوبو ته لار ومومي. په نورو لوبډلو کې هرات او لغمان په ۳-۳ بریاوو دویم او دریم، کابل اي لوبډلې په یوې بریا څلورم او نیمروز بغیر له کومې گټې پنځم مقام په خپل نومونو کړل.

د وزیرمحمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالیو کې سږ کال ډیری ځوان لوبغاړي وځلېدل، چې هم یې د توپوهنې او هم یې د توپ اچونې په برخه کې خپل



مهارتونه وښودل. د یادو ځوانو استعدادنو له ډلې یې د توپوهنې او توپ اچونې لس-لس لوبغاړي دلته درپېژنو:

د بدخشان لوبډلې توپوهونکي فرید ځدراڼ ۴ لوبو کې په ۳۳۵ منډو جوړولو لومړی، د خوست ب لوبډلمشر اصغر اتل ۴ لوبو کې په ۳۲۸ منډو دویم، کندهار لوبډلې پیلیز توپوهونکي نصیب الله پوپل ۴ لوبو کې په ۳۲۴ منډو دریم، د میدان وردگ لوبډلې توپوهونکي نصیراحمد هاشمي ۴ لوبو کې په ۳۰۶ منډو څلورم، د تخار لوبډلې پیلیز توپوهونکي سهیل احمد مومند ۳ لوبو کې په ۲۸۶ منډو پنځم، د پروان لوبډلې توپوهونکي سیف الله احمدزي ۴ لوبو کې په ۲۴۶ منډو شپږم، د کابل الف لوبډلې ویکټ ساتونکي توپوهونکي سمیع موزي ۲ لوبو کې په ۲۴۰ منډو اووم، د خوست لوبډلې توپوهونکي طاهر سروري ۳ لوبو کې په ۲۳۹ منډو اتم، د لغمان لوبډلې پیلیز توپوهونکي عمران حسن ۳ لوبو کې به ۲۳۷ منډو نهم او د ننگرهار ب لوبډلې الراونډر عابد محمدي ۳ لوبو کې په ۲۳۶ منډو ترلاسه کولو لسم مقام ونیوه.

د توپ اچونې په برخه کې هم لاندې ځوانان غوره ولوبېدل او په لس غوره توپ اچوونکو کې یې ځای ونیوه. د دوی له ډلې د هرات لوبډلې ورو توپ اچوونکي محمدعلي ۴ لوبو کې په ۱۳ ویکټو لومړی، د کابل ج لوبډلمشر سیدخان ۴ لوبو کې په ۱۳ ویکټو دویم، د بلخ لوبډلمشر الراونډر اسدالله متانې ۴ لوبو کې په ۱۱ ویکټو دریم، د جوزجان لوبډلې توپ اچوونکي جاوید سیدي ۴ لوبو کې په ۱۱ ویکټو څلورم، د کندز الف لوبډلې توپ اچوونکي شریف الله ریاض ۴ لوبو کې په ۱۱ ویکټو پنځم، د ننگرهار لوبډلې توپ اچوونکي ابراهیم ۳ لوبو کې په ۱۰ ویکټو شپږم، د ننگرهار الف لوبډلې توپ اچوونکي حیات نوري ۴ لوبو کې په ۱۰ ویکټو اووم، د پکتیکا لوبډلمشر محمد عالم ۴ لوبو کې په ۱۰ ویکټو اتم، د پکتیا لیگ بریکر سمیع مبارز ۴ لوبو کې په ۱۰ ویکټو نهم او د کندز لوبډلې توپ اچوونکي عمران ۳ لوبو کې په ۱۰ ویکټو ترلاسه کولو سره لسم ځای خپل کړی.










د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالیو کې ټول هغه ځلیدلي لوبغاړي چې د توپوهنې، توپ اچونې او ډګر ساتنې په برخو کې یې ښه مهارتونه له ځانه ښودلي؛ په وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي سیالیو کې د لوبېدو وياړ ورکړل شو.

د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ سږ کال په شل اوریزو او پنځوس اوریزو دوو بڼو ترسره شوې، چې د شل اوریزو سیالیو ځلېدونکي لوبغاړي په ملي شل اوریزو سیالیو کې او په پنځوس اوریزو سیالیو کې ځلیدونکي لوبغاړي د غازي امان الله خان لیسټ اې او د میرویس نیکه درې ورځنیو لوبو کې د لوبېدو وياړ ترلاسه کوي.

افغانستان کرکټ بورډ د تل په څېر د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالۍ سږ کال هم په پوره معیار او غوره کیفیت سره ترسره کړې. د یادو سیالیو په هر لوبغالي کې د ځلورو لوبڅارانو، یوه ډاکټر، یوه ټرینر (د فزیکي تکړښت) روزونکي، دوه سکوررانو (منده شمېرونکو) او د سیالیو مدیر یا مسوول ګډون درلود، چې له مخې یې یادې سیالۍ په ښه او غوره کیفیت سره ترسره شوې.

همدا راز د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګې په هر لوبغالي کې د غوره رسنیز پوښښ په موخه دوه-دوه همکاران ټاکلي وه، چې وخت پر وخت یې د افغانستان کرکټ بورډ د ویب پاڼې ترڅنګ ټولنیزو رسنیو فیسبوک، ټویټر، انسټګرام او یوټیوب کې بېلابېلې ویډیوګانې، انځورونه او ورځنۍ راپورونه خپرول. دغه رسنیز پوښښ په پراخه توګه ځارونکي درلودل چې د لوبغاړو فردي او د لوبډلو هر اړخیزې کارګرډګی پکې خپرېدلې.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان د کورني کرکټ سیالیو د تګلارې له مخې هر هغه  لوبغاړي چې افغان وي او د پوره وړتیا او استعداد خاوند وي، کولی شي په اسانۍ سره تر خپلو ملي لوبډلو ورسیږي. د دغه تګلارې له مخې افغانستان کرکټ بورډ لومړۍ د هېواد په ټولو ولایتونو کې چې پر شرایطو برابر وي، د کلبونو په کچه کلنۍ لوبې ترسره کوي. د یادو ولایتونو د ځلېدونکو لوبغاړو څخه لومړۍ ولایتي لوبډلې جوړوي څو په وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالیو کې ولوبیږي. د دوزیر محمد اکبر خان دویمې درجې لوبو ځلېدونکي لوبغاړي






د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه لوبو ته ځي. د لومړۍ درجه ولایتي لوبو ځلېدلي لوبغاړي بیا د میرویس نیکه درې ورځنیو، لیسټ اې او ملي شل اوریزو لوبو ته لار مومي.

د ملي شل اوریزو سیالیو هغه لوبغاړي چې غوره کارګردګی او وړتیاوې یې ننداري ته وړاندې کړې وي، د کورني کرکټ سترو شپږیزه لیګ سیالیو ته غوره کیږي. همدا راز د میرویس نیکه درې ورځنیو لوبو کې ځلېدونکي لوبغاړي د احمدشاه ابدالي سترو فرسټ کلاس څلور ورځنیو لوبو کې د لوبېدو وياړ خپلوي.



# د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ

## درجه ولایتي سیالۍ په دوو بڼو کې ترسره شوي



د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ د مهالوېش سره سم د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ هم ترسره شوې. دغه سیالۍ د لومړي ځل لپاره په دوو بېلابېلو بڼو (یو ورځنۍ او شل اوریزه) کې ترسره شوې. د یو ورځنیو لوبو اتلولي یې ننګرهار او د شل اوریزه سیالیو اتلولي یې د خوست لوبډلې وګټله.

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ ځانګې په خبره د دوو بڼو سیالیو څخه یې موخه د سور توپ او سپین توپ لپاره د جلا جلا استعدادونو موندل دي، ترڅو هر لوبغاړی چې په کومه بڼه لوبو کې ښه وړتیا لري د افغانستان



کرکټ بورډ ته په لاس ورشي.

د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي سیالیو کې سږ کال هم ۱۲ پیاوړو لوبډلو ګډون کړی و، چې په دوه جلا جلا ګروپونو کې یې سیالۍ ترسره کړې او د هر ګروپ د سر دوه مخکښې لوبډلې نیمه پایلوبو ته ووتلې.

د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي یو ورځنۍ سیالۍ د ننګرهار لوبډلې په اتلولۍ سره پای ته رسېدلې وې. د یادو سیالیو په پایلوبه کې ننګرهار لوبډلې د ۱۲۴ منډو په لوی توپیر سره د ننګرهار-ب لوبډلې ته ماتې ورکړې وه. د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي یو ورځنۍ سیالۍ چې د جنورۍ میاشتې پر پنځمه د خوست او ننګرهار ولایتونو کې ترسره شوې ۱۲ پیاوړو لوبډلو پکې د لوبډو ویاړ درلود.

د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي یو ورځنۍ سیالۍ چې هر کال ترسره کېږي، له مخې یې غوره او ځلېدلي لوبغاړي د کورني کرکټ سترو میرویس نیکه درې ورځنیو او لیسټ اې سیالیو ته غوره کېږي.

د افغانستان کرکټ بورډ چې د کورني کرکټ استعدادونو روزلو او رابرسېره کولو ته ژمن دی، د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي سیالیو ته یې هم یو شمېر وړ او با استعداده لوبغاړي د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالیو څخه یادو لوبو ته غوره کړه، چې د ملي لوبډلې او د کورني کرکټ له یو شمېر پیاوړو لوبغاړو سره څنګ پر څنګ ولوبېدل.



خوست لوبډلې د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي شل اوریزه سیالیو د اتلولۍ جام خپل کړ

د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ د مهالویش سره سم د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي یو ورځنیو سیالیو د ترسره کولو وروسته د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي شل اوریزه سیالۍ چې د فبرورۍ



میاشتې پر ۳یمه نېټه د کندهار او ننګرهار ولایتونو په کوربتوب پیل شوې وې، د اتلولۍ جام یې خوست لوبډلې په خپل نوم کړی و. دغه پایلوبه چې د ننګرهار په نجیب الله تره کي لوبغالي کې ترسره شوې وه، خوست لوبډلې پکې د ٦ ویکټو په توپیر سره د خوست ب لوبډلې ته ماتې ورکړې وه. د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي شل اوریزه سیالۍ سږ کال د لومړي ځل




د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي یو ورځنیو سیالیو د پایلوبې په مراسمو کې اکبر موسی زي په ٦٩ منډو د پایلوبې د غوره لوبغاړي، د پکتیکا لوبډلې توپوهونکي کرامت الله په ۳۹۳ منډو د سیالیو د غوره توپوهونکي، د لوګر لوبډلې توپ اچوونکي محمد الله لوګري په ۱۲ ویکټو د مخکښ توپ اچوونکي، د ننګرهار-ب لوبډلمشر نصیر خان په ۱۳ ویکټو او ۴۵ منډو د سیالیو د توپلچاري او د ننګرهار لوبډلې لوبغاړي عثمان یونس په ٦۴ منډو او ۱۳ ویکټو د سیالیو د ځوان لوبغاړي جایزې ترلاسه کړې.

د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي یو ورځنیو سیالیو کې هرې لوبډلې پنځه او هر لوبغاړي پکې حداقل درې لوبې ترسره کړې، خو هغه لوبغاړو چې په دوامداره توګه یې ښه کارګردګي درلوده، د خپلې لوبډلې لپاره تر دریو زیاتې او حتی ټولې لوبې ترسره کړې.



لپاره په شل اوریزه بڼه هم ترسره شوې، چې غوره او ځلېدونکي لوبغاړي به يې ملي شل اوريزه سياليو ته لار ومومي.

د وزير محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولايتي شل اوريزه سياليو کې هم ۱۲ پياوړو لوبډلو ګډون کړی و، چې له منځه يې له الف ګروپ څخه خوست ب او ډوميستيک ايليون۲- او له ب ګروپ څخه خوست او



کابل الف لوبډلو نيمه پايلوبو ته لار موندلې وه. د يادو سياليو په لومړۍ نيمه پايلوبه کې خوست لوبډلې د ۳۳ منډو په توپير د ډوميستيک ايليون۲- لوبډلې ته او دويمه نيمه پايلوبه کې خوست ب لوبډلې د ۱۱ منډو په توپير د کابل الف لوبډلې ته ماتې ورکړې وه.

د ويلو ده چې په پايلوبه کې بيا د خوست لوبډلې وکولی شوه، چې د خوست ب لوبډلې ته د ٦ ويکټو په لوی توپير سره ماتې ورکړي او د وزير محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولايتي شل اوريزه سياليو اتلولي په خپل نوم کړي.



د وزير محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولايتي شل اوريزو سياليو د پايلوبې په وروستيو کې طاهر سروري د پايلوبې د غوره لوبغاړي، محمد هارون په ۲۳٦ منډو د سياليو د تر ټولو غوره توپوهونکي، نسيم منګل په ۱۲ ويکټو د مخکښ توپ اچوونکي، يونس ځدراڼ په ۹ ويکټو او ۱۱۱ منډو د سياليو د تر ټولو غوره لوبغاړي او رحمت الله په ۸ ويکټو د سياليو د ځوان




لوبغاړي جايزې په خپل نوم کړې.

د افغانستان کرکټ بورډ چې تل د کورني کرکټ لوبغاړو لپاره د فرصتونو برابرولو او ورته پوره کيفيت د سياليو برابرولو ته ژمن دی. سږ کال هم افغان کرکټ بورډ د وزير محمد اکبر خان لومړۍ درجه يو ورځنيو او شل اوريزه سياليو کې د لوبغاړو لپاره هر ډول سهولتونه چمتو کړي وو.

په یادو سهولتونو او اسانتیاو کې د لوبغاړو لپاره د ورځني خرځ ۱۰۰۰ افغانی، د تګ راتګ کرایه او د لوبو فیسونه ټاکلي وه، چې له امله يې ټولو لوبغاړو پرته له کوم ذهني فشار په ښه ډول خپلې لوبې ترسره کړې. افغانستان کرکټ بورډ دغه لوبو ته د افغانستان ملي او نوموتي لوبغاړان ټاکلي وه، چې ترڅنګ يې د لوبو مديرانو، منډه شمېرونکو او د ویشتنځایونو جوړونکي مسلکي کسان هم شامل وو.

د وزیر محمد اکبر خان لومړی درجه ولایتي شل اوریزه او یو ورځنیو سیالیو ته د ټل په څېر دا ځل هم د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګې په غوره کیفیت سره رسنيز پوښښ ورکړ. د رسنيو څانګې له لوري د هر لوبغالي لپاره د لوبغاړو د ښو عکسونو او ویډیوګانو د نیولو په موخه همکاران موظف کړي وه، چې وخت پر وخت يې د لوبغاړو د هرې کارګردګۍ ویډوګاني، عکسونه او راپورونه د افغانستان کرکټ بورډ پر ویبسایټ، فسبوک، یوټیوب، انسټګرام او ایکس باندې خپرول. د یاد غوره رسنيز پوښښ له امله د افغانستان کرکټ








بورډ د کورني کرکټ د ټولنیزو رسنیو پاڼې خورا په لویه کچه د مینه والو له لوري ځارل کېدې او د لوبغاړو ښو کارګردګیو ته غبرګونونه ورکول کېده.

د وزیر محمد اکبر خان لومړی درجه ولایتي شل اوریز سیالیو ټول هغه با استعداده لوبغاړې چې د توپوهنې او توپ اچونې په برخو کې يې غوره کارګردګي ترسره کړې، ملي شل اوریزه سیالیو ته به غوره شي او د ملي شل اوریزه سیالیو غوره لوبغاړي به شپږیزه لیګ کې د لوبېدو فرصتونه ترلاسه کړي.

# د کرکټ قوانین

## د دویم قانون پاتې برخه

## د دویم قانون پاتې برخه: د لوبغاړانو دندې او اشارې

د افغانستان کرکټ بورډ د سوداګریزې څانګې رسنیز واحد د افغان کرکټ د تېر کال مجلې په وروستۍ ګڼه کې د کرکټ د قوانینو په اړه د عامه پوهاوي د اړتیا له مخې د یادو قوانینو د پښتو ژباړې لړۍ پیل کړه. په لومړۍ برخه کې د قوانینو سریزه (چې د کرکټ د روحیې او سپورتي اخلاقو په اړه وه)، د لومړي قانون (د لوبغاړو په اړه) او د دویم قانون (لوبڅار) لومړۍ برخه خپره شوه. په دې ګڼه کې به د کرکټ د دویم قانون پاتې برخو ته کتنه وکړو، چې د لوبڅارانو پر دندو، درېدلو او اشارو بحث کوي.

٢.٩: د لوبڅارانو د درېدلو ځای

لوبڅاران باید په داسې ځای کې ودرېږي چې هر څه په روښانه ډول ووینې، ترڅو سمه او کره پرېکړه وکړای شي. د توپ اچوونکي اړخ ته ولاړ لوبڅار (چې مخامخ لوبڅار هم ورته ویل کېږي) باید د توپ اچوونکي د منډې یا رن-اپ او د توپوهونکي د لید مخه ډب نه کړي. دغه راز دویم لوبڅار چې په معمول ډول په لیګ سایډ کې درېږي، کولی شي خپل ځای له لیګ سایډ څخه اف سایډ ته بدل کړي؛ خو په دې شرط چې د توپ اچوونکي لوبډلې لوبډلمشر، توپوهونکی او خپل همکار لوبڅار د خپل ځای له بدلولو څخه مخکې له مخکې خبر کړي.

٢.١٠: د لوري یا ځای بدلول

لوبڅاران یوازې هغه وخت خپل لوري بدلوي، کله چې د لوبې یوه پاڼۍ بشپړه شي (یعنې کله چې بله لوبډله توپ اچونه پیل کړي).

### ٢.١١: پرېکړې او اختلافات

که په یوه حالت، موضوع یا پرېکړه کې د لوبڅارانو ترمنځ اختلاف یا شک موجود وي، نو دواړه لوبڅاران باید له یو بل سره مشوره وکړي او وروسته یوه ګډه او وروستۍ پرېکړه اعلان کړي.








### ٢.١٢: د پرېکړې بدلون

لوبڅار کولی شي سمدلاسه خپله پرېکړه بدله کړي؛ خو که له پرېکړې وروسته ډېر وخت تېر شي یا لوبه بیا پیل شي، نو بیا هغه پرېکړه وروستۍ ګڼل کېږي او د بدلېدو وړ نه ده. (البته د ډېډ بال پرېکړه هېڅکله بېرته نشي اخیستل کېدای).

### ٢.١٣: اشارې

**٢.١٣.١:** لوبڅاران باید د لاندې اشارو په کولو سره خپلې پرېکړې اعلان کړي:

**٢.١٣.١.١:** هغه اشارې چې د توپ د لوبېدو پر مهال کېږي:

- **ډېډ بال:** له نامه لاندې د دواړو لاسونو مړوندونه یو پر بل اړول
- **نو بال:** یو لاس په افقي ډول یوه اړخ ته غځول او د څو ثانیو لپاره یې هماغسې غځېدلی نیول
- **اوټ:** د شهادت ګوته پورته کول؛ که لوبغاړی اوټ نه وي، نو لوبڅار باید په لوړ غږ د (ناټ اوټ) غږ وکړي.
- **وایډ بال:** دواړه لاسونه په افقي ډول دواړو خواوو ته غځول.

**٢.١٣.١.٢:** لوبڅار باید د اوټ له اشارې پرته، پورته ذکر شوې نورې ټولې اشارې سکورر (منډې شمېرونکي) ته یو ځل بیا تکرار کړي.

٢.١٣.١.٣: سکورر ته ځانګړې اشارې:

- **څلوریزه:** یو لاس په سینه پورې غاړو ته ښورول
- **شپږیزه:** دواړه لاسونه له سر څخه نېغ پورته کول
- **بای:** یو لاس، چې ټولې ګوتې یې خلاصې وي، له سر څخه پورته نیول
- **لېګ بای:** یو زنګون پورته کول او پر هغه په لاس وهل
- **نوی توپ:** توپ د سر له پاسه نیول او ټولو خواوو ته یې ښودل



- د وروستي ساعت پیل: د یوه لاس مړوند پورته کول او په دویم لاس هغه ته اشاره کول
- توپ وهونکې لوبډلې ته د ۵ اضافي منډو ورکول: په یوه لاس د مقابل لوري (بله) اوږه په مکرره توګه ټپول.
- توپ اچوونکې لوبډلې ته د ۵ اضافي منډو ورکول: یو لاس د مقابل لوري پر اوږه اېښودل
- د پرېکړې بېرته اخیستل: دواړه لاسونه د هغوی په مخالف لوري اوږو اېښودل (لکه ښی لاس پر چپه اوږه او چپ لاس پر ښی اوږه)
- نیمګړې منډه: یو لاس پورته کول او د همدې لاس ګوتې خپلې اوږې ته رسول لاندې اشارې د لوبغاړو د ناسم چلند د دریمې او څلورمې درجې د ښودلو لپاره کارول کېږي. هره اشاره دوه برخې لري او دواړه باید په جلا توګه د سکورر له لوري تایید شي:


**د دریمې درجې چلند:**



- **لومړۍ برخه:** یو لاس څنګ ته وړل او بیا یې په مکرره توګه ښکته او پورته ښورول
- **دویمه برخه:** دواړه لاسونه پورته کول او ټولې (لس واړه) ګوتې سکورر ته ښکاره کول

**د څلورمې درجې چلند:**

- **لومړۍ برخه:** یو لاس څنګ ته وړل او بیا یې په مکرره توګه ښکته او پورته ښورول





- دویمه برخه: یوازې د یوه لاس د شهادت ګوته پورته کول او سکورر ته یې ښودل

**۲.۱۳.۱.۴:** په پورته (۲.۱۳.۱.۳) برخه کې ذکر شوې ټولې اشارې به د مخامخ (لومړي) لوبڅار له لوري کېږي. یوازې د نیمګړې منډې اشاره به د لیګ سایډ (دویم) لوبڅار کوي؛ خو د هغه دا اشاره به هم مخامخ لوبڅار سکورر ته تکراروي او دا معلومات به هم ورکوي چې څو منډې نیمګړې وې او څومره سمې شمېرل کېږي.

۲.۱۳.۲: لوبڅار باید تر هغه وخته پورې منتظر پاتې شي چې هره اشاره یې سکورر ته ورسېږي او د هغه له لوري ځواب یا تایید ترلاسه کړي. له هغه وروسته کولی شي د لوبې د دوام اجازه ورکړي. که په یوه وخت کې له یوې زیاتې اشارې کارول کېږي، نو باید د لوبې حالاتو ته په کتو، په ترتیب سره او پرلپسې ډول سکورر ته وړاندې شي.

## ۲.۱۴: د لوبڅارانو خبرول


د قوانینو په رڼا کې، لوبډلمشران یا لوبغاړي کولی شي یوازې یوه لوبڅار ته معلومات یا شکایت وړاندې کړي؛ بیا هماغه لوبڅار مسوولیت لري چې خپل همکار لوبڅار له موضوع څخه خبر کړي.

## ۲.۱۵: د منډو او ارقامو کره والی

لوبڅاران باید د شکمنو مسایلو په اړه تل له سکوررانو سره خبرې وکړي. لوبڅاران مکلف دي چې د لوبې په هره وقفه کې له سکوررانو سره معلومات شریک کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې منډې، ویکټې او اورونه په بشپړه توګه دقیق او سم شمېرل شوي دي.

# INFRASTRUCTURE AND
## FACILITIES

World-class infrastructure is another key requirement. Nations must have at least two ICC-accredited venues capable of hosting One Day International matches. In addition, they must provide adequate facilities to sustain domestic competitions, including training grounds, stadiums, and support systems.
This ensures that cricket can be played, developed, and showcased at an international standard within the country.





# DEVELOPMENT PROGRAMS
## AND CAPACITY BUILDING

Finally, the ICC places strong emphasis on grassroots development. Over a minimum of four years, countries must implement structured coaching and talent identification programs aimed at increasing participation and enjoyment of the game.
Equally important is the training of key personnel; coaches, umpires, curators, and scorers, who form the backbone of a professional cricketing ecosystem. These programs ensure that growth is not only visible at the top level but deeply rooted across all layers of the sport.

# A HOLISTIC PATH
## TO EXCELLENCE

The journey from Associate to Full Member status is both challenging and transformative. It requires a nation to excel in governance, finance, performance, infrastructure, and development simultaneously. The success stories of Afghanistan and Ireland illustrate that with vision, investment, and persistence, emerging cricket nations can rise to the highest level.
Ultimately, ICC Full Membership is not just a reward for past achievements; it is a commitment to sustaining excellence and contributing meaningfully to the global growth of cricket.

# ROBUST DOMESTIC AND
## PARTICIPATION STRUCTURES

A thriving domestic cricket system is essential for long-term success. Applicant nations must maintain structured domestic competitions, including 50-over and T20 tournaments with at least three competitive teams. These tournaments should carry official status, ensuring a professional standard of play.

Beyond senior cricket, countries must invest in youth and women's pathways, creating opportunities for talent identification and progression. A strong and growing player base is critical, supported by increasing participation levels and consistent development over several years.



# PROVEN INTERNATIONAL
## PERFORMANCE

On-field success remains a crucial pillar. To qualify for Full Membership, Associate nations must consistently compete at the highest levels. This includes appearing on the ICC Men's ODI rankings and participating in major tournaments such as the ICC Cricket World Cup and ICC Men's T20 World Cup.

More significantly, aspiring nations must prove their competitiveness by defeating established Full Member teams; particularly those ranked in the top ten. These victories must come both in global tournaments and bilateral series over an extended period, demonstrating that success is not accidental but sustained.



# STRONG GOVERNANCE
## AND FINANCIAL STABILITY

At the core of Full Membership lies effective governance. Applicant countries must demonstrate a well-structured administrative system supported by a detailed constitution. This includes clear rules on membership, voting rights, and annual general meetings, as well as strict policies on anti-corruption, anti-doping, and ethical conduct.

Equally important is financial transparency and sustainability. Nations are required to present four years of fully audited accounts without significant discrepancies. Additionally, they must generate at least 10% of their revenue independently; beyond ICC funding; while maintaining a healthy financial balance, including manageable debt levels and positive asset positions. These requirements ensure that a cricket board can operate independently and responsibly.



# FROM ASSOCIATE TO ELITE

## THE ROAD TO ICC FULL MEMBERSHIP

In the modern era of international cricket, achieving Full Member status in the International Cricket Council (ICC) represents the highest level of recognition for any cricketing nation. It is a milestone that reflects not only on-field success but also strong governance, infrastructure, and long-term development. A historic example came in June 2017, when Afghanistan and Ireland were awarded Full Membership during the ICC's Annual General Meeting in London. Their elevation ended a 17-year gap since Bangladesh became a Full Member in 2001, signaling a new era of opportunity for emerging cricket nations.

But reaching this elite level is no simple achievement. The ICC has established a comprehensive and demanding set of criteria that Associate Members must meet, ensuring that only well-rounded and sustainable cricket systems are promoted.





**Afghanistan Cricket Board**
Kabul International Cricket Stadium
Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul
Ghani Khan Road, Kabul, Afghanistan